١٤٤٦

# معلومات



عمار عمير

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

د کتاب په اړه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | معلومـات |
| لیکـــــــوال: | حذیفه کندهاری |
| ډیـــزائـــن: | لیکـــوال |

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست

سریزه

## ۱: هر اړخیز

د هجري کلیزي (تقویم) ابتداء

د فاروقي فتوحاتو وسعت

د حضرت علي رضی الله عنه تر بیرغ لاندي به لومړنی سرلښکر معاویه وي!

په هندوستان کې د عربو ۵ ستر حکومتونه

۱:حکومت هباریه

۲:حکومت سامه

۳:حکومت ماهانیه

۴:حکومت متغلبه

۵:حکومت معدانیه

عباسیانو په وخت کې عجم

د ځیني عباسي خلفاؤو خصوصیات

د مبارکي روضې شاوخوا دیوال

ایوبي منبر

پاپ، پادري او کارډينل

د ډوډۍ پر سر اختلاف

د يهودانو د سلطان عبدالحميد څخه د فلسطين غوښتنه

روميان او مسلمان

سل کليمه ييز ستاينليک

د مسلمانانو لپاره دوې ستري غميزي

نکبة

نکسة

## ۲: اشخاص

صاحب المطهرة

عشرة مبشرة

حبيب النجار

د عسکري قيادت له صفاتو ډک خالد

د جګړې په ډګر کې يوه مسلمانه بي بي

عبدالله بن زبير رضی الله عنه

د صحابه وو او تابعينو وروستي کسان

وروستي صحابه

وروستي تابعين

مختار ثقفي

عقبه بن نافع

حجاج بن یوسف

عبدالله بن مبارک رحمه الله

هارون الرشید

مثمن

سلطان عماد الدين زنگي

سلطان صلاح الدين ايوبي

سلطان غياث الدين غوري

سلطان رکن الدين محمود بيبرس

نظام الملک طوسي

عثمان خان (د عثماني خلافت بنسټ ايښودونکی)

خادم الحرمين والشريفين

ګوډ تيمور

د عثماني خلافت لومړنی خليفه

د حشيشانو په لاسو وژل سوي شخصيتونه

ابن بطوطه

ملا مشک عالم

د لیبیا مجاهد

## ۳: ځـایونه

قسطنطنیه

اصفهان

بلخ

ترکستان

تدمر (پالمائر یا پالمیره)

قبة الصخرة

بغداد

د قرطبې لوی مسجد

د قرطبې کتابتون

مشهد ابو حنیفه

دادین

جامعه ابو ایوب

د روهتاس کلا

مدرسة العشایر

دارالعلوم الحمیدیه

نظامیه مدرسه

## ۴: جنگـونه


د بشریت د تاریخ تر ټولو حیرانوونکي او چټک فتوحات

د اجنادین غزا

د یرموک جګړه

د قسطنطنیه لومړنۍ محاصره

د ساسانیانو شاهي بیرغ

ایبیریا Iberia (پخوانی اندلس)

د سلطان نور الدین زنګي له لوري د دمشق فتحه

د ملاذکرت جګړه

د انګورې جنګ

ورځه قسطنطنیه فتحه سوه!

د پاني پت جګړې

د میوند تاریخي جګړه

د تاریخ تر ټولو لنډ جنګ

د افیونو جګړې

لومړی نړیوال جنګ

دوهم نړیوال جنګ


## ۵: لومړنـي

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارک ژوند سوانح

د وریښمو کاغذ

د کښتیو پل

د عجمو تاریخ

مفتح نجوم

په ترکانو کې تر ټولو لومړی مسلمانه قبیله

په اسلام کې لومړنی فلسفي

جامعة القرويين

د طبابت جواز

عربه لرونکې ګاډی

کاغذي پیسې

قهوه Coffee

الجزاري

## ٦: ډلــې

ترکان

د عیسائیت درې ډلې

آزارقه خوارج

حشیشان (فدایان)

يني چري

جمعية الاتحاد والترقي

سامره

الوطني المجرد

المنظمة التحرير الفلسطينية (PLO)

د فتح غورځنګ

الجبهة الشيعية لتحرير فلسطين (Popular front for the liberation of Palestine) (PFLP)

## ۷: اسلامي اعصار

لومړی عصر

دوهم عصر

دریم عصر

څلورم عصر

پنځم عصر

# سریزه

الحمد لله و الصلوة والسلام علی نبیه المصطفی          اما بعد!

له ډیره وخت څخه مې د ځان سره داسې څه یادابښت کول چې په اړه به یې خبر نه وم، یا به په خبر وم خو په جزئیاتو به یې سم نه پوهیدم او یا به یې تاریخونه په کره ډول نه وه را معلوم، نو په دې ډول مې له ډیره وخته وروسته او له ډیرو یادابښتونو له لیکلو وروسته دا فکر ته راغلل چې د رسالې بڼه ورکړم او د ځان سره یې وساتم، نو همداسې مې وکړل.

خو د ځینو مخلصو ملګرو په مشوره مې دا غوره وبلل، چې همدا وړوکې رساله خپلې ټولنې ته وړاندې کړم.

په دې رساله کې ما تر خپل وس او کوشش پورې هڅه کړې چې هر څه دقیق ولیکم، خو که بیا هم څه تیروتنه او غلطي پکښې سوې وي، نو اول له الله جل جلاله څخه او بیا وروسته ستاسو ټولو څخه بخښنه غواړم.

الله جل جلاله دې وکړي چې دا کمزورې هڅه زموږ او ستاسې لپاره ګټور څه ثابت سي.

م. زید حذیفه

# ۱: هر اړخيز

## د هجري کليزي (تقويم) ابتداء

د حضرت عمر رضی الله عنه به خلگو د حوادثو او پيښو تاريخونه په مختلفو طريقو سره ليکل په دې کې د هغوی اختلاف وو، ځينو د فارسيانو طريقه اختيار کړه کوم چې د خپلو پاچاهانو او حاکمانو د پيدائښت او په تخت د کيناستلو د زمانې څخه حساب لگوي، ځينو خلگو د روميانو طريقه اختيارول غوښتل او د ځينو صحابه کرامو دا رايه وه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د بعثت تاريخ د اسلامي تقويم اساس وټاکل سي، خو حضرت علي کرم الله وجهه دا نظر وړاندي کړ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له مکې معظمې څخه و مدينې منورې ته په کومه ورځ هجرت کړی هغه ورځ دي د اسلامي تقويم اساس مقرر سي.

دا رايه حضرت عمر رضی الله عنه او صحابه کرامو خوښه کړه او حضرت عمر رضی الله عنه امر وکړ چې د تاريخ ټاکل دي د نبوي هجرت له شروع څخه پيل سي.

(د اسلام تاريخ:لومړی ټوک)

## د فاروقي فتوحاتو وسعت

د حضرت عمر رضی الله عنه د مفتوحه هيوادونو ټول مساحت (۲۲۵۱۰۳۰) مربع ميله وو، يعني د مکې مکرمې څخه د شمال په لور (۱۰۳۶۰)، د ختيځ په لور (۱۰۸۷) ميله، د لويديځ په لور (څرنگه چې يواځي تر جدې پوري د حکومت پولي وې، نو له دې امله د يادولو وړ نه دي).

په دې کې شام، مصر، عراق، جزيره، خوزستان، عراق عجم، ارمينيا، اذربايجان، فارس، کرمان، خراسان او مکران (چې د بلوچستان څه برخه هم پکښې راځي) شاملي وې، دا ټول په ځانگړي ډول د عمر رضی الله عنه فتوحات دي او ددې ټولو موده د لسو کلونو څخه لږ زياته سوه.

| فتوحات | د فتحي کال |
|---|---|

| | |
|---|---|
| د عراق فتوحات: | |
| د قادسیه جګړه | ۱۴ هـ محرم |
| جلولا | ۱٦ هـ |
| د شام فتوحات: | |
| دمشق | ۱۴ هـ رجب |
| فحل | ۱۴ هـ ذوالقعدة |
| حمص | ۱۴ هـ |
| یرموک | ۱۵ هـ رجب |
| | |
| بيت المقدس | ۱٦ هـ |
| جزیره | ۱۷ هـ |
| خوزستان | ۱۷ هـ |
| قیساریه | ۱۹ هـ |
| مصر | ۲۰ هـ |
| اسکندریه | ۲۱ هـ |
| د عجمو عراق | ۲۱ هـ |
| پر ایران عامه لښکر کشی | ۲۱ هـ |
| اذربایجان | ۲۲ هـ |
| طبرستان | ۲۲ هـ |
| ارمينيا | ۲۳ هـ |
| فارس | ۲۳ هـ |
| کرمان | ۲۳ هـ |
| سیستان | ۲۳ هـ |

| | |
|---|---|
| مکران | ۲۳ هـ |
| د خراسان فتح او د یزدگرد ماته | ۲۳ هـ |

(امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه: علامه شبلي نعماني)

## د حضرت علي رض تر بیرغ لاندي به لومړنی سر لښکر معاویه وي!

د حضر علي رضی الله عنه او معاویة رضی الله عنه تر منځ سخت اختلافات وه، د روم قیصر د همدې حالاتو څخه د ګټي اخیستني په موخه د ایران په شمالي ولایاتو (چې د حضرت علي رضی الله عنه په حکومت کې شاملي وې) د حملې اراده وکړه، که چیري هغوی حمله کړې وای حضرت علي رضی الله عنه یې دفع نسوای کولای او له بلي خوا دوی ډاډه وه چې حضرت معاویة رضی الله عنه به د دوی سره کار ونه لري، ځکه د دوی په فکر حضرت معاویة باید خوشحاله لا سي، خو حضرت معاویة رضی الله عنه د دوی د هیلي پر خلاف د روم قیصر ته یو لیک واستاوه چې پکښي لیکل سوي وه:

زموږ خپل منځي جنګونه دي تا په دوکه کې وانه چوي، که تا د حضرت علي رضی الله عه په لور مخه کړه نو د علي رضی الله عنه تر بیرغ لاندي به لومړنی سرلښکر چې ستا د ټکولو لپاره به دررسیږي هغه به معاویة وي.

د دې لیک اثر تر یو لوی پوځ هم ډیر وو، ددې لیک په خاطر هغوی له خپلو ارادو واوښتل.

(د اسلام تاریخ: لومړی ټوک)

## په هندوستان کې د عربو ۵ ستر حکومتونه()[1]

هغه سیمي چي د هغوی د فتحي پیل د محمد بن قاسم په لاسو سوی وو، د هغه وروسته بیا په دې

---

۱: هر ځای چي داسي قوسونه بند راغلي وي مطلب دا چي د دې حواله مي په کره ډول له ځان سره نه وه یاداښت کړې ځکه نو په کتاب کې مي هم نه ده لیکلې، خو حقیقت دا دی چي په اصل کې مي له کتابه اخذ کړی.

**۱** سیمو کې پنځه ستر ستر حکومتونه جوړ کړل سول چې تفصیل يې په دې ډول دی:

**: حکومت هباریه:**

دا حکومت په سندھ کې قائم کړل سو.

دا حکومت د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو صحابي سیدنا حبار بن اسود بن مطلب بن اسد بن عبدالعزی بن قصی رضی الله عنه په نامه جوړ کړل سوی وو، ویل کیږي چې هغه د اسلام د منلو مخکې د مسلمانانو په زورولو کې پوره لاس درلود خو د مکې د فتحي وروسته مسلمان سو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات تر وخت پوري همالته په مدینه کې وو، خو د رحلت وروسته شام ته ولاړ د ده د اولادې څخه یو کس منذر بن زبیر هباري د بنو امیه ۇ په دوران کې سندھ ته راغی او همدلته اباد سو.

په هغه وختو کې د سندھ سیاسي او ملکي حالت ډیر ګډوډ وه، منذر بن زبیر د سندھ څخه ووت او د جزیرې په ښار قرقیسه باندي يې واکمني تر لاسه کړل، خو هلته بیا ناکام سو او مصلوب کړل سو خو کورنۍ يې په سندھ کې د حالاتو انتظار کاوه، آن تر دې چې لمسي يې عمر بن عبدالعزیز بن منذر هباري په سندھ باندي ولکه وکړه او په منصوره کې خپل حکومت جوړ کړ او د عباسي خلیفه په نامه يې خطبه ولوسته.

همدې حکومت ته يې حکومت هباریه ویل چې تر ۱۷۰ کلونو پوري قایم پاته سو.

**۲: حکومت سامه:**

دا دولت په پنجاب کې قائم کړل سو.

دا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوه صحابي لقیط بن عباده سامي رضی الله عنه په نامه جوړ کړل سوی وو، دی د بنو سامه د قبیله څخه وو خو د ده نسب شجره د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره نښلي، د همدې له مخي ورته یو وخت رسول صلی الله علیه وسلم ږغ کړل: انت منّي و انا منک (ته له موږ څخه يې او موږ ستاسو څخه یو).

د بنو سامه د قبیلې څه خلګ د نهروان په جنګ کې شامل وو کله چې د نهروان جنګ پای ته ورسیدی نو د بنو سامه درې سوه کسان د مکران په لور ولاړل، او یو شمیر خلګ يې د عمان په لور ولاړل دا په داسي حال کې چې په عمان کې ډیره ابادي د بنو ازدیانو وه، د هندوستان او عمان تر منځ د پخوا څخه بحري سفرونه کیدل، په دې خاطر دې سیمو ته د بنو سامه تګ راتګ د بنو سامه ځواک نور هم ور

زيات کړ، آن تر دې چې د هغوی څخه يو کس محمد بن قاسم سامي په عمان کې خپل حکومت جوړ کړ، وروسته يې ځواک دومره زيات سو چې خپل حکومت يې تر پنجاب پوري راورساوه.

محمد بن قاسم سامي په پنجاب کې د عربو حکومت جوړ کړ چې تر ۷۵ کالو پوري يې دوام وموند.

**۳: حکومت ماهانيه:**

دا حکومت په سندان کې قائم کړل سو خو په ځايي ژبه کې ورته سنجان وايي.

د دويمي هجري پيړۍ په اخر کې په سندهـ کې خپلواکي، قبائلي عصبيتونه او مذهبي ټکرونه هر لوري ته پيل سوي وه، ځرنګه چې د سندهـ سيمه د بغداد څخه ډيره لري پرته وه په دې خاطر د خلافت مخالفينو (قرامطه، خوارج، روافض، اسماعيلي او ملاحده) دا سيمه د خپلو فعاليتونو مرکز ګرځولی وو.

په همدې حالاتو کې په پنجاب کې د عربو لخوا د جوړ سوي حکومت بنو سامه يو ازاد کړل سوي غلام فضل بن مهمان د سندهـ د دې حالاتو څخه د ويستلو او د يوه مستحکم اسلامي حکومت د جوړښت لپاره د هندوستان د سنجان په لور مخه کړه، دا ځای د ګجرات د مهاراجګانو مقبوضه سيمه وه خو فضل بن مهمان د يوه ستر لښکر په مرسته هغوی ته ماته ورکړه او هلته يې خپل حکومت جوړ کړ.

په دې سيمه کې د عربو ماهانيه حکومت پيل سو چې ۳۰ کاله يې دوام وموند.

**۴: حکومت متغلبه:**

د عربو دا حکومت د سندهـ په يوه ولايت توران کې قائم کړل سو.

په توران کې دا ښارونه هم شامل دي: عال کيز، کانان، سواه، خضدار، قنده بيل.... خو د دې ټولو مرکز د توران ښار وو چې اوس ورته خضدار وايي او په بلوچستان کې پروت دی.

په دې سيمو کې د عربو يو وګړي مغيره بن احمد د اسلامي مملکت بنسټ کيښود.

مغيره بن احمد په توران باندي ولکه وکړه او هلته يې د عباسي خليفه خطبه ولوسته، دا واکمني هغه په خپل قوت سره ترلاسه کړې وه خو حکومت يې موروثي او کورنی نه وو، ځکه د مغيره بن احمد وروسته چې کوم دويم کس د دې سيمي حکمران وګرځيد هغه ابو القاسم وو چې د ده د کورنۍ غړی نه وو.

دې حکومت ته يې د حکومت متغلبه نوم ورکړ.

**۵: حکومت معدانيه:**

دا دولت په مکران کې قائم کړل سو.

د استخري د کتاب مسالک الممالک او د یاقوت حمومي د مخرج البلدان کتاب څخه داسي معلومیږي چې عیسی بن معدان لومړنی شخص وو چې د دې حکومت بنسټ یې کینبود.
دا حکومت د هندوستان په لویه وچه کې تر ۳۰ کالو پوري دوام وموند.

## د عباسیانو په وخت کې عجم()

عباسي خلافت که څه هم د عربو په مرسته راغلی وو خو عباسي خلفاؤو له دې ویري چې هځي نه عرب یې په خلاف بغاوت وکړي عجمو ته یې پر عربو فوقیت ورکړ.
خلیفه منصور د عربو پښې وهلې، آن تر دې چې د خلیفه واثق بالله په وختو کې د عربو ځواک په مکمله توګه له منځه ولاړ او واکمني ټوله د عجمیانو په لاسو کې ولویده، خو عجمو د بنو عباس د خلفاؤو څخه متوکل وواژه، او د هغه وروسته منتصر بالله، مستعین بالله، معتد بالله، معتدي بالله، مقتدر بالله، قاهر بالله، متقي بالله او مستکفي بالله ټول عجمو ووژل، او بیا د بنو عباس حالت دومره خراب سو چې د عجمو په خاطر یې په بغداد کې اوسیدونکي په لکونو مسلمانان د مرګ سر مخ سول او بالاخره عجمیانو د عباسي خلافت لمن راټول کړه.

## د ځیني عباسي خلفاؤو خصوصیات

سفاح په وینه تویولو کې له چټکتیا څخه کار اخیست.
منصور زړور سړی وو او د مال او دولت جمع کوونکی هم وو، منصور تر ټولو لومړی د آل عباس او آل ابي طالب تر منځ بې اتفاقي راوسته، نجومیان یې ځان ته را نیزدې کړل، د ثریاني او عجمي ژبي کتابونه لکه: اقلیدس، کلیله و دمنه او یوناني کتابونه یې د هغه لپاره ترجمه کړل.
مهدي خورا سخي، عادل او منصف مزاج سړی ، د هغه پلار چې له خلګو کوم څه په زوره اخیستي وه، هغه یې بیرته ورکړل، زندیقان یې ووژل، مسجد الحرام، نبوي جومات او اقصی جومات یې ودان کړل.
هادي ظالم او مغرور سړی وو او د هغه حاکمان یې هم پیروان وه.
هارون الرشید جهاد او حجونه وکړل، د مکې او مدینې په لارو کې یې سرایونه او کوهیان جوړ کړل، عام

خلگ د هغه تر احسان لاندي راغلل، هغه د شطرنج لوبه هم وکړه.

امين سخي سړی وو، خو په مزو چړچو کې اخته سو.

مامون د نجوم او فلسفې تر اغيز لاندي راغلی خو خورا سخي او صابر سړی وو.

معتصم بالله هم د هغه پر کړنلاره روان و، خو د شهسوارۍ او عجمي شاهانو مشابهت سره يې مينه لرله، ښې غزاګاني او سوبې يې وکړې.

واثق د خپل پلار په پله روان وو.

متوکل د مامن، معتصم او واثق بالله پر خلاف تګلاره غوره کړه، د هغوی له عقائدو سره يې مخالفت وکړ، د احاديثو د اورولو حکم يې وکړ، په عمومي ډول خلګ تري خوښ وه.

(د اسلام تاريخ/دوهم ټوک: مولانا اکبر شاه نجيب ابادي)

## د مبارکي روضې شاوخوا ديوال

په کال ۵۵۷ هجري کې يو شپه سلطان نور الدين زنګي حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم په خوب وليدی، چې د هغه راسته او چپ لوري ته دوه نور سړي هم وي چې له شکل څخه صليبيان ښکاري، رسول الله صلی الله عليه وسلم سخت غمجن وو، بيا يې د هغو دوو کسانو خواته داسي اشاره وکړه، لکه سلطان ته چې وايي: نورالدينه! دا سړي ما ځوروي پورته سه او د هغو شر له منځه يوسه.

سلطان د دې خوب داسي تعبير ويوست چې صليبيان به پر مسلمانانو حمله کوي نو يې خپل ټول پوځي قوت د تيارۍ په حال کې کړ.

بله شپه سلطان بيا همداسي خوب وليدی، څرنګه چې هغه د خپل خوب تعبير را ويستلی وو خو بيا هم رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته داسي اشاره کول، لکه پرون چې يې په خوب کې ورته کړې وه.

سلطان د دې لپاره چې ددې خوب معنا وباسي ټوله شپه ژړل او د خپل رب جل جلاله يې د علاج دعاګاني غوښتې.

په دریمه شپه سلطان بیا هغسي خوب ولیدی خو په دې شپه رسول الله صلی الله علیه وسلم ډېر خپه وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا هماغسي اشاره وکړه.

بله ورځ سلطان خپل ټول سلاکاران را ټول کړ او خپل خوب یې ورته ووایه او ویې ویل چې په مدینه منوره کې حتما داسي کوم نه کیدونکې پیښه سوې ده له کوم څخه چې د سرور کونین صلی الله علیه وسلم مقدس روح ته څه تکلیف رسیدلی دی، نو زه د مدینې منورې لوري ته ځم.

سلطان د شلو تنو ساتونکو سره د مدینې منورې لوري ته وخوځید، عموما له شلو څخه تر پنځه ویشتو ورځو پوري لار وه خو سلطان په شپاړسمه ورځ مدینې ته ورسید.

سلطان اعلان وکړ چې د ښار د تلو او راتلو دروازې بندي کړي او بیا یې اعلان وکړ چې نن دي ټول خلګ له سلطان سره یو ځای خوراک او څښاک وکړي.

د مدینې خلګو دا بلنه ومنل، ټول خلګو د سلطان په شتون کې خوراک وکړ، سلطان به د دوی په منځ کې ګرځیدی او هر کس ته به یې ډېر دقت سره کتل، کله چې میلمستیا ختمه سوه او سلطان هماغه دوه کسان ونه لیدل نو پریشانه سو.

سلطان د ښار له مشرانو څخه پوښتنه وکړه چې کوم څوک خو به له میلمستیا څخه نه وي پاته؟ یو نفر وویل چې دوه مغربي مسافر دي چې له یوې مودې څخه دلته د روضې شریفي څنګته په یو کور کې اوسي، هغه میلمستیا ته نه دي راغلي.

سلطان هغوی راوغوښتل، دا هماغه کسان وه چې په خوب کې سلطان لیدلي وه، خو د هغوی شکلونه د زاهدانو په څیر وه.

سلطان هغوی له خپلو ساتونکو سره تم کړل او د هغوی کور ته د ښار له مشرانو سره یو ځای ورغلی، په کور کې یې ډېر پلټنه وکړه بالاخره یې د کور په منځ کې پر یو فرش باندي جای نماز پروت وو، سلطان چې یې هغه فرش لري کړ هلته یوه لویه ډبره پرته وه کله چې یې هغه لري کړه نو ټولو ولیدل چې هلته یو

سوری وو چې د مبارکي روضې لوري ته تللی وو، سلطان یو سړی هغه سوري ته ورننویست، هغه ولیدل چې سوری تقریبا مکمل سوی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر مبارک بدن پوري رسیدلی وو.

سلطان هغوی په ځنځیرونو تړلي حاضر کړل، سلطان له هغوی څخه په دې اړه پوښتنه وکړه، له هغوی څخه یوه کس وویل: موږ نصرانیان یو او ستاسي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د جسد د پټولو لپاره گومارل سوي یو.

سلطان هم په خپله جلالي توره د هغوی سرونه پرې کړل او د هغوی مړي یې اور ته واچول.

وروسته سلطان په حکم د مبارکي روضې شاوخوا ته دومره ژور خندق وویستل سو چې له ځمکې څخه اوبه راووتلې، بیا یې یو ډول مواد (غالبا دا مواد به سرف وه) چې له هغه څخه د توپک مرمۍ او داسي نور شیان جوړیږي اوبه کړل او خندق یې تري ډک کړل.

د سلطان نور الدین زنگي دا دیوال اوس هم موجود دی.

(د حرم سپاهي: اسلم راهي)

## ایوبي منبر()

سلطان صلاح الدین ایوبي یو منبر جوړ کړی وو، تر څو د القدس د فتحي وروسته د اقصی په مسجد کې کښېږدي.
سلطان به دا منبر د القدس د ښار تر ازادۍ مخکې د هغه مخته ایښی وو، چې د هغه د حوصلې او تشویق سبب وگرځي، کله چې القدس په ۵۸۳هـ فتح سو، هغه خپل ارمان پر ځای کړ او منبر یې په مسجد اقصی کې کښېښنودی.
ځیني تاریخ پوهان وایي چې دا منبر سلطان نورالدین زنگي جوړ کړی وو، خو هغه د اقصی تر ازادۍ مخکې وفات سوی وو نو سلطان صلاح الدین ایوبي دا منبر همالته یووړ.
په ۱۹۶۸م کال یهودو د دې ستر مجاهد د لاس نښه (منبر) وسوځاوه او د تل لپاره یې ختم کړ.

## ۸: د ډوډۍ پر سر اختلاف

کله چې د سلطان محمد فاتح د حملې د تیاري خبر قسطنطنیه ته ورسیدی په دې وخت کې د «رومن کتولیک کلیسا» او «دي هولي ارتوډکس کلیسا» تر منځ سخت اختلافات وه چې د نهه سوه کالو څخه را روان وه نو د قسطنطنیې قیصر یوولسم قسطنطین هغه وخت دا غوره وګڼل چې د دې دواړو کلیساوو تر منځ اختلاف ختم کړي ځکه یې نو په ایاصوفیا کلیسا کې غونډه جوړه کړه.

د غونډې ورځ را ورسیدل غونډه شروع سوه خو په دې وخت کې قسطنطین د څه کار لپاره د غونډۍ د جریان د ځنډولو اعلان وکړ او قسطنطین د غونډې د محفل څخه ووت.

د دواړو کلیساوو پادریان یو ځای پاته سول او په خپلو منځو کې یې خبري شروع کړې خو دا خبري په یوه اوږده بحث بدلي سوې.

په دې وخت کې د قسطنطنیې یو عام پادري ولاړ سو او د مقابل لوري پادري ته یې وویل:

تاسو خلګ د شرابو سره پتیره ډوډۍ استعمالوی دا په کوم کتاب کې راغلي دي، موږ خو د شرابو سره د پتیري ډوډۍ خوړونکي حرام خوړونکي او د عیسوي دین څخه بیرون ګڼو، موږ د شرابو سره د خمیره سوي ډوډۍ په خوړلو قائل یو، څوک چې خمیره سوې ډوډۍ نه خوري او پتیره ډوډۍ خوري د هغه خوراک حرام ګڼل کیږي، تاسو بدعتونه را ویستلي دي، تاسي حرام کارونه کوی او حرام خوری، د عیسوي دین څخه خارج او کافر یاست.

په همدې وخت کې د ایا صوفیا یو بل پادري پورته سو او ویې ویل:

شرم وکړئ شرم! که د خمیره سوې ډوډۍ څخه کرکه کوئ نو بیا خمیره سوي شراب ولي څښئ؟ تاسي د پخوا څخه کافر واست.

د تاریخ پاڼو د ډوډۍ دغه اختلاف په خپلو زرینو کرښو کې ځای کړی دی.

(سلطان محمد فاتح: ادریس ازاد)

## د یهوادنو د سلطان عبدالحمید څخه د فلسطین غوښتنه

د نړیوال یهودي خوځښت مشر (تیودور هرتزل) د یهودو په مسئله کې د اروپا له عیسوي هیوادونو (جرمني، برتانیا او فرانس) څخه تائید تر لاسه کړ او په عثماني دولت یې زور راوړ چې د سلطان عبدالحمید سره وګوري او د فلسطین غوښتنه تري وکړي، په دې حالاتو کې عثماني دولت له ډېرو مالي ستونزو سره مخ وو.

د یهودانو په اړه د سلطان عبدالحمید د تګلاري د اغیزمنولو لپاره له هرتزل سره یواځینی لار همدا وه، په دې اړه هرتزل په خپلو یاداښتونو کې لیکي: «په موږ لازمه ده چې شل میلیونه لیرې د ترکیې د اقتصادي حالت د ښه کولو لپاره ولګوو، له دې پیسو څخه دوه میلیونه د فلسطین د بیې په بڼه او نوري د پورونو څخه د عثماني ترکیې د خلاصولو لپاره ورکړو»

په ۱۸۹٦م کې هرتزل له قسطنطنیې لیدنه وکړه، په دې سفر کې له هغه سره نیولنسکي (د برید الشرق ورځپاني مسؤل) هم ملګری وو، چا چي له سلطان عبدالحمید سره دوستانه اړیکي درلودې، په پایله کې نیولنسکي د یلدز مانۍ ته د هرتزل د نظرونو د رسولو بندوبست وکړ، د نیولنسکي او سلطان تر منځ خبري وسوې.

سلطان وویل: ایا د دې خبري امکان سته چې یهوادن له فلسطین پرته په کومه بله سیمه کې میشت سي؟

نیولنسکي ځواب ورکړ: فلسطین د یهوادنو لپاره د اصلي پولي (کرښي) حیثیت لري، نو ځکه یهودان یواځي فلسطین د ستنیدو هیله لري.

سلطان وویل: فلسطین یواځي د یهودانو لپاره اصلي کرښه نه ده، بلکه د ټولو ادیانو لپاره د لومړۍ کرښي حیثیت لري.

نیولنسکي وویل: که یهودانو ته فلسطین ورنکړل سي، نو د هغوی ټوله هڅه دا ده چې ارجنټاین ته ولاړ سي.

سلطان عبدالحمید نیولنسکي ته د هرتزل په نوم یو لیک ورکړ او ورته ویې ویل:

خپل ملګري هرتزل ته ووایه چې په دې موضوع به نوري خبري نه کیږي ځکه چې د دې مقدسی ځمکي له یوې لویشت څخه هم لاس په سر کیدای نسي، ځکه چې دا زما ملکیت نه دی، دا زما د ملت ملکیت دی، د دې ځمکي په خاطر زموږ پلرونو او نیکونو جګړې وکړې او په خپلو وینو یې خړوبه کړې ده، یهود

دي خپل میلینونه روپۍ له ځان سره کنبیږدي، کله چې زما هیواد ټوټې ـ ټوټې سي نو دوی ته به فلسطین د کوم عوض پرته تر لاسه سي، خو د دې هیواد ټوټه ـ ټوټه کولو لپاره اړینه ده چې لومړی زموږ وجود ذرې ـ ذرې سي، البته موږ به په ژوند ځان ذرې ـ ذرې کولو ته ورنکړو.

په ۱۸۹۹ م کال هرتزل ته د سلطان سره د لیدني موقع پیدا سوه، هغه همدا وړاندیز بیا ورته وکړ خو کومه ګټه یې ونه کړه.

(عثماني خلافت: دکتور علي محمد الصلابي)

## رومیان او مسلمانان

په ۷۰ م کې رومي امپراطورۍ یهود له القدس څخه وشړل، خو کله چې په ۶۳۷م کې مسلمانانو القدس فتح کړ، دوی ته یې بیرته دې سپیڅلي ښار ته د راتلو اجازه ورکړه.

(هیر سوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## سل کلیمه ییز ستاینلیک

په ۱۴مه پیړۍ کې هونګوو سل کلیمه ییز ستاینلیک ولیکه چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم خصوصیات یې پکښې ستایلي وه، د هغې سلګونه نخسې د چین ټولو مسجدونو ته وویشل سوې.

(هیر سوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## د مسلمانانو لپاره دوې ستري غمیزي

**نکبة:**

نکبة عربي لفظ دی چې معنا یې تباهي او افت دی، دا اصطلاح د ۱۹۴۸ د هغه پیښي لپاره کارول کیږي چې د اسرائیلو د حکومت د جوړېدو پر مهال د عربو د ابادۍ لوی شمیر وشړل سوه.

د نکبة پر وخت تقریبا اوه لکه فلسطینیان له کورونو وشړل سول او د هغوی کلي تباه یا اشغال سول.

دا ورځ هر کال په د مئ د میاشتي پر ۱۵ باندي لمانځل کیږي چې د اسرائیلو د ازادۍ د اعلان څخه یوه

ورځ وروسته ده.

**نکسة:**

نکسة د ۱۹٦۷ د عربو او اسرائیلو جنګ ته اشاره کوي چې هغه ته شپږ ورځنی جنګ هم ویل کیږي.

په دې جنګ کې اسرائیلو د اردن، مصر او شام پر ضد بریا تر لاسه کړه، اسرائیلو په لویدیځه څنډه، د غزې په تړانګه، ختیځ یروشلم، جزیره نما سینا او ګولان هایټس باندي ولکه وکړه.

(اغزي او لونګ: یحیی سنوار)

# ۲: اشخاص

## صاحب المطهرة()

عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه ته صاحب المطهرة وايي ځکه چې هغه به اکثره وخت د رسول الله صلی الله علیه وسلم مسواک او هغه لوښی چې اوبه به پکښې وې (بدنۍ يا ګډوه) ورسره وړل.

## عشرة مبشرة

| شماره | اصلي نوم | کنيت | د پلار نوم |
|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالله | ابوبکر | ابوقحافه |
| ۲ | عمر | ابوحفص | خطاب |
| ۳ | عثمان | ابوعبدالله | عفان |
| ۴ | علي | ابوالحسن | ابوطالب |
| ۵ | طلحة | ابو محمد | عبيدالله |
| ٦ | زبير | ابوعبدالله | العوام |
| ۷ | عبدالرحمن | ابومحمد | عوف |
| ۸ | سعد | ابو اسحاق | ابو وقاص |
| ۹ | سعيد | ابوالاعور | زيد |
| ۱۰ | عامر | ابوعبيدة | الجراح |

(نفحة العرب:

## حبيب النجار

دا هغه مبارک سړی دی چې د قران مجيد په سورة يس کې الله جل جلاله د هغه ذکر کړی دی.

د حبيب قبر د انطاکيه په ښار کې دی.

(د حرم سپاهي: اسلم راهي)

## د عسکري قيادت له صفاتو ډک خالد

يو مصري مؤرخ عباس محمود العقاد په خپل تاليف (عبقرية خالد) کې ليکلي دي:
د عسکري قيادت له صفتونو څخه به هيڅ يو صفت داسي نه وي چې په خالد ابن الوليد رضی الله عنه کې موجود نه وو، هغه په جرئت، ميړانه، ځيرکتيا او پر دښمن باندي په کاري ګوزارونو کې بې ساری وو، او په لږ ساعت کې د جګړې بڼې ته په تغير ورکولو کې ډېر زيات ماهر وو.
(حق پالونکي: الحاج قيام الدين کشاف)

## د جګړې په ډګر کې يوه مسلمانه بي بي

په ۱۳ هجري کال اسلامي لښکرو دمشق محاصره کړ، روميانو د محاصرې د ماتولو لپاره د هرقل د مشهور جنرال وردان تر قيادت لاندي دوولس زره عسکر دمشق ته وليږل.
حضرت خالد رضی الله عنه د دې لښکر د مخنيوي لپاره خپل يو تن قومندان حضرت ضرار ابن الازور رضی الله عنه (دا هغه صحابي دی چې د روميانو په منځ کې د پيري په نامه مشهور وو) د پنځه سوه کسانو سره وليږه، دغه پنځه سوه کسيز لښکر د دوولس زره منظم لښکر سره په پوره ميړانه وجنګيد، خو په پای کې د دښمن لخوا حضرت ضرار رضی الله عنه محاصره سو او ژوندی يې ونيوی.
حضرت خالد رضی الله عنه چې خبر سو سمدلاسه يې د مجاهدينو لښکر د جنګ ميدان ته وخوځاوه، د لښکر په مخ کې پر سره آس باندي يو نقاب پوش روان وو، د جنګ په ميدان کې دغه نقاب پوش بې شميره زخمونه وخوړل خو يو قدم هم شاته نه سو.
حضرت خالد رضی الله عنه ږغ پري وکړ: اې د خدای جل جلاله د لاري مجاهده! تا په ريښتيا سره سرښندنه او ميړانه وکړه، د خدای جل جلاله د رسول صلی الله عليه وسلم په حضور کې به سرلوړی اوسې، خو ستا له شان سره مخ پټول نه ښايي، مخ لوڅ کړه چې ودي پيژنو چې ته څوک يې؟!
نقاب پوش ورته وويل: اې اميره زه د ضرار بن الازور خور خوله بنت الازور يم زه ډېره غمګينه يم چې ورور مي بندي دی، ما قسم کړی دی چې يا به خپل ورور له دښمنانو څخه ازاد کړم او يا به له ژوند څخه لاس په سر سم.

د جنګ له پای ته رسیدو وروسته حضرت خالد رضی الله عنه د رومي بندیانو څخه د حضرت ضرار رضی الله عنه په هکله پوښتنه وکړه هغو جواب ورکړ چې زموږ قوموندان هغه هرقل ته ولیږی تر څو ورته وښیي چې موږ له پیریانو سره په جنګ بوخت یو.

حضرت خالد رضی الله عنه رافع بن عمیره د سل تنه سپرو سره ولیږی چې حضرت ضرار را خوښي کړي، په دې کسانو کې خوله هم وه، په لاره کې یې د دښمن سل تنه جنګیالي ولیدل چې په منځ کې پر یو آس حضرت ضرار رضی الله عنه تړلی دی.

مسلمانانو حمله پري وکړه او هغه یې را خوښي کړ.

(فتوح الشام: ابي عبدالله محمد بن عمر بن الواقد الواقدي)

## عبدالله بن زبیر رضی الله عنه()

عبدالله بن عباس رضی الله عنه د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه په اړه فرمایي:

هغه د الله جل جلاله د کتاب قاري وو، پرهیزګاره وو، پلار یې زبیر بن العوام رضی الله عنه وو (حواري د رسول الله صلی الله علیه وسلم)، مور یې اسماء وه (ذات النطاقین)، نیکه یې ابوبکر (افضل البشر بعد الأنبیاء)، عمه یې بي بي خدیجة الکبری رضی الله عنها وه (د رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړۍ میرمن)، خالة یې بي بي عائشه رضی الله عنها وه (ام المؤمنین حبیبة رسول الله علیه وسلم) او انا یې بي بي صفية رضی الله عنها وه.

## د صحابه وو او تابعینو وروستي کسان()

**وروستي صحابه:**

په عشره مبشره کې تر ټولو اخر سعد بن ابي الوقاص رضی الله عنه په ۵۵ هجري کال وفات سو.

د بدریانو څخه تر ټولو اخر ابوالیسر کعب الانصاري رضی الله عنه په ۵۵ هجري کال کې وفات سو.

په امهات المؤمنین کې تر ټولو اخر ام سلمة رضی الله عنها په ٦٢ هجري کال وفات سوه.

په ٨٦ هجري کې عبدالله بن حارث رضی الله عنه وفات سو او په دې توګه هیواد د صحابه وو څخه

خالي سو.

په مدينه منوره کې تر ټولو اخر محمود رضی الله عنه په ۹۹ هجري کال وفات سو، محمود رضی الله عنه په کوچنيوالي رسول الله صلی الله عليه وسلم ليدلی وو.

په بصره کې تر ټولو اخر سيدنا انس بن مالک رضی الله عنه په ۹۳ هجري کال وفات سو.

په مکه مکرمه کې تر ټولو اخر سيدنا ابو طفيل عامر رضی الله عنه په ۱۱۰ هجري کال وفات سو، او دده په وفات سره مکه هم د صحابه وو څخه خالي سوه، او حضرت عامر رضی الله عنه اخري صحابي دی.

**وروستي تابعين:**

په ۱۰۴ هجري کال مشهور تابعي سيدنا عمر شعباني چې د ۵۰۰ صحابه وو سره يې د ليدلو وياړ په برخه سوی وو وفات سو.

په ۱۰٦ هجري کال سالم بن عبدالله بن عمر تابعي او په ۱۰۷ هجري کال سيدنا اکرمه مولی ابن عباس او سيدنا سليمان بن يسار هم يو په بل پسې وفات سول.

په ۱۱۰ هجري کال کې حسن بصري او محمد بن سيرين وفات سول.

په ۱۱۴ هجر ي کال عطاء ابن ابي رباح  وفات سو.

په ۱۱۷ هجري کال نافع بن مولی ابن عمر وفات سو.

په ۱۱۸ هجري کال قتاده او محمد بن مسلم مکي هم وفات سول.

په ۱۲۴ هجري کال ابوبکر بن شهاب تابعي وفات سو.

او په ۱۲۷ هجري کال عبدالله بن دينار وفات سو.

په دې توګه د بنو اميه په دوران کې تابعين هم ټول وفات سول.

(ابو مسلم خراسانی: اسلم راهي)

## مختار ثقفي

**مختار بن عبيده ثقفي:**

د سيدنا حسين رضی الله عنه د شهادت پيښه او د کربلا زړه دردوونکې واقعه د همدې مختار ثقفي په لاسو د فتنې د را پارولو په نتيجه کې واقع سوه، بيا يې چې کله په کوفه کې قوت وموندی نو د ې پر

ځای چې د خپلو مخکینیو اعلاناتو په مطابق علویانو ته د حکومت په ورکولو کې مرسته کړې وای، برعکس یې د مسلمانانو په کافرولو پیل وکړ.
هغه په ډیره چالاکۍ سره د کوفې د حاکم پر خلاف بغاوت وکړ او پخپله د کوفې حاکم وګرځید.
هغه وخت چې حضرت علي کرم الله وجهه په کوفه کې میشت وو نو د هغه یوه چوکۍ وه چې هغه به ډیر وخت پر کښیناستی، دا چوکۍ اوس د هغه د خوریي جدا بن ام هاني بنت ابي طالب سره وه، مختار د هغه څخه دا چوکۍ وغوښته هغه اصلي چوکۍ ورنه کړه یوه بله چوکۍ یې هغه ته وړاندي کړه.
مختار چوکۍ خپلي مخي ته کښیښودل او دوه رکعته لمونځ یې ادا کړ، وروسته یې هغه ښکل کړه او خپلو ټولو مریدانو ته یې د هغه د ښکلولو حکم وکړ او ویې ویل: لکه څنګه چې الله تعالی تابوت سکینه بني اسرائیلو ته لیږلی وو او هغوی ته د نصرت او برکت سبب وګرځید، په همدې توګه به دغه چوکۍ زموږ د فتح او کامرانۍ نښه وګرځیږي او په هر ځای کې به موږ ته فتح او نصرت په برخه سي.
خلګو به دا چوکۍ ښکلوله او سجدې به یې ورته کولې.
مختار د ې چوکۍ لپاره صندوق جوړ کړ او هغه ته یې د سپینو زرو قلف ور واچوی.
دا صندوق یې بیا د کوفې په جامع جومات کې کښیښود، هر چا چې به د کوفې په جامع کې لمونځ کاوه نو دا صندوق به یې خامخا ښکلاوه.
د دې وروسته محتار په ډیره چالاکۍ سره خلګو ته د خپلي الهام خبره را برسیره کړه او بیا ډیر ژر د نبوت مدعي وګرځید.
هغه په دې اکتفاء ونه کړه بلکه پر بصرې باندي د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه له طرفه حاکم مصعب بن زبیر پر خلاف یې تیاری شروع کړ، کله چې جنګ حتمي سو نو مصعب ابن زبیر په خپله د مختار ثقفي مقابلې ته راووتی، مختار ثقفي یې په کوفه کې محاصره کړ، تر څو چې مختار د مصعب بن زبیر لاسو ته ولویدی هغه هم قتل کړ او سر یې و عبدالله بن زبیر رضی الله عنه ته مکې مکرمې ته ولیږه.
خلاصه دا چې د مختار الثقفي سلطنت داسي پای ته ورسیدی لکه بیخي چې له سره نه وو.
(اموي خلافت: مولوي عبدالرحمن محمود)

## حجاج بن يوسف

د ۲۵ ـ ۷۵ هـ پوري اسلامي تاريخ له ځينو داسي خونړيو پيښو ډک دی چې په تيرو پيړيو کې ډيري اوښکي پري تويي سوي او ياد به يې په راتلونکي کې هم د اوښ:و او سلګيو څخه پرته تازه نسي، هغه توري چې د خدای جل جلاله په نامه اوچتي سوي وې د خدای جل جلاله د نوم اخيستونکو د ورميږونو پرې کولو لپاره چليدې، دغه خطر ورځ په ورځ زياتيده چې هغه مسلمانان چې په څو کلونو کې د بريښنا په څير د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسيدل بيرته په هماغه توندۍ د عربو ټاپو وزمي ته را محدود نسي، په هغه وخت کې بصره او کوفه د ډول ډول دسيسو مرکز وو، مسلمانانو خپل لومړني روايات پريښي وو او د جهاد له جذبې يې مخه اړولې وه، دوی ته د خپلو ذاتي ګټو او خپلو روا او ناروا ارزوګانو پرته نور هيڅ معتبر نه وو، مسلمانانو ته په يوه مرکز را ټوليدو يو قوي لاس ته ضرورت وو.

د عربو په بيابان کې يوه اورغورځوونکي غره خوله خلاصه کړه او د دې اورغورځوونکي غره هيبتناکو لمبو ته د عربو او عجمو د بغاوتونو سکروټي هيڅ سوې او ټول يې تر خپلو سکروټو لاندي چوپ کړل، دغه اورغورځوونکی غر حجاج بن يوسف وو.

هغه بې اندازې سخت سړی، بې رحمه او ظالم وو، خو تقدير د مسلمانانو د خپلمنځي اختلافونو د له منځه وړلو او د مسلمانانو د لښکرو د اسونو مخه ختيځ او لويديځ لور ته اړولو کار له ده څخه واخيست.

حجاج بن يوسف د مسلمانانو دوست هم وو او بدترين دښمن هم، دوست ځکه چې امن يې ټينګ کړ او د اسلامي لښکر د پرمختګ لپاره يې درې لوريو ته لاري پرانيستلې.

يوه لار هغه وه چې د مسلمانانو لښکر يې تر فرغانې او کاشغره ورساوه.

دوهمه هغه وه چې د مسلمانانو د بخت اسونه يې تر مراکش او فرانسې ورسول.

دريمه لار هغه وه چې محمد بن قاسم يې تر سند پوري ورساوه.

بدترين دښمن ځکه چې د هغه خونړۍ توره چې د دښمن او اشرارو لپاره له تيکي راوتلې وه، ډير ځله له خپلو حدودو واوښتل د بې ګناهو ورميږونو ته ورسيده، د هغه پر بې رحمه لمن د حضرت عبدالله بن زبير رضی الله عنه په څير کسانو د مرګ داغونه هم وه.

که د حجاج توره د بې ګناهانو په وينه نه وای رنګيدلې نو هغه به د تاريخ د ډيرو سترو او عظيمو

شخصیتونو څخه یو وو، هغه یو داسي تیز باد ته ورته وو چې د اسلام د غلیمانو د ازغیو سره یې د اسلام د بڼ ډیر ښکلي ګلونه هم یوړل.

د ده د دوران یوه برخه ډیره دردناکه او بله برخه یې ډیره په زړه پوري ده، حجاج د هغه توپان په څیر وو چې له څپو سره یې ځیني میوه لرونکي وني هم له بیخه ووځي، خو په غیږ کې غلې وریځ یې په زرګونو تږي او جل وهلي فصلونه او کښتونه اوبوي.

(د غازي داستان: نسیم حجازي)

## عبدالله بن مبارک رحمه الله

عبدالله بن مبارک رحمه الله چې پوره نوم یې عبدالله بن مبارک بن واضح الحنظلي دی، په ۱۱۸ هجري شاوخوا کې پیدا سوی دی.

عبدالله بن مبارک رحمه الله د وخت د سترو امامانو او علماوو څخه علم تر لاسه کړ، هغه د حدیثو په علم کې ستر نوم لري او د لوی محدث په توګه پیژندل کیږي.

عبدالله بن مبارک رحمه الله په سخاوت، جهاد او تقوا کې شهرت درلود، د هغه د جهاد په اړه یو مشهوره کیسه راځي:

د رومیانو سره د جګړې پر مهال یو کافر د مسلمانانو او کفارو د صفونو تر منځ ګرځیده او مسلمانانو ته یې د مقابلې اعلان کاوه، د مسلمانانو له خوا یو په بل پسې ٦ کسان وروتل خو د هغه په مقابل کې په شهادت ورسیدل، وروسته یو مول وهلی مجاهد ورووتی، له څه جنګ وروسته یې هغه کافر وواژه وروسته یې کفارو ته د مقابلې اعلان وکړ، د کفارو له صفه یو په بل پسې ٦ کسان راووتل خو د هغه مول وهلي مجاهد په مقابل کې ووژل سول.

د دې وروسته هغه مول وهلی د مجاهدینو په لوري راغلی او په صفو کې دننه سو.

د دې جګړې یو بل مجاهد وایي:

زه وروسته په دې مول وهلي پسې وګرځیدم او پیدا مي کړ، دا مشهور محدث عبدالله بن مبارک رحمه الله وو، ابن مبارک ماته وویل: زما د مرګ د وخت پوري به ما چاته نه ورښیې.

عبدالله بن مبارک رحمه الله د ژوند تر پایه پوري د دین خدمت ترسره کړ، او بالاخره په ۱۸۱ هجري کال وفات سو.

(د امت لومړي خلگ: محمد نعماني)

## هارون الرشید

عباسي خلیفه هارون الرشید د لري دولتونو سره د ډیپلوماتیکو اړیکو له امله مشهور وو.

په ۸۰۲م کې هغه په فرانس کې شارلیمین (هغه مهال د فرانس پاچا) ته هیئت واستاوه چې یو فیل او یو د اوبو ساعت هم ورسره وه.

(د اسلام تاریخ/دوهم ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي)

## مثمن

د عباسي خلافت ۸ خلیفه معتصم بالله ته مثمن هم ویل کیږي، ځکه د هغه د ۸ عدد سره ځانګړې علاقه وه.

معتصم بالله د خلیفه هارون الرشید ۸ اولاد وو، هغه په ۱۸۰ یا ۱۷۸ هجري قمري کال پیدا سو، په دغه دواړو عددو کې ۸ موجود دي، د هغه د پیدائښت ستوری عقرب وو چې ۸ برج دی ، هغه په ۲۱۸ هـ کال پر تخت کښیناست، په عباسي خلفاؤو ۸ خلیفه دی، ۴۸ کاله عمر یې وو، ۸ زامن او ۸ لوڼې یې وې، هغه ۸ کاله او ۸ میاشتې حکومت وکړ، ۸ کورونه یې جوړ کړل، ۸ ستري ستري جګړې یې وګټلې، ۸ بادشاهان د هغه دربار ته راوستل سول، خپل ۸ تنه ستر ستر دښمنان لکه افشین، عجیف، عباس، بابک، مازیاد او نور یې ووژل، د ربیع الأول د میاشتې ۸ ورځې پاته وې چې وفات سو، او ۸ لکه دیناره، ۸ لکه درهمه، ۸ زره اسونه، ۸ زره غلامان او ۸ زره وینځې تري په میراث کې پاته سوې.

(د اسلام تاریخ/دوهم ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي)

## سلطان عماد الدین زنګي

هغه له ذاته ترک وو، کله چې د هغه پلار وفات سو نو هغه يواځې د لسو کلونو وو، د موصل امير کربغا چې د هغه د پلا ر دوست وو هغه له ځان سره موصل ته بوتلی د هغه روزنه او پالنه يې پيل کړه.

هغه تر اته ديرشو کلونو پوري د ميوپوټيما جزيرې په جګړو کې او د هغه ځای په سياسي حالاتو کې له نورو اميرانو سره يو ځای ګډون کاوه.

د هغه يوه مشهوره اتلولي دا ده:

يو ځل کله چې هغه د لښکرو سالار و، د طبريه په محاصره کې هغه د نصرانيانو د يوې سختي حملې مقابله وکړه او دښمن يې شاتګ ته اړ کړ، او د هغوی تعقيب په کې د هغوی تر ښاره ورسيدی، کله چې را تاو سو او شاته يې وکتل نو هغه يواځې وو او د هغه لښکر د جګړې په ډګر کې تم سوی وو.

د سلطان عماد الدين زنګي ډيري زياتي کارنامې تاريخ په خپل غيږ کې ثبت کړي دي.

(د حرم سپاهي: اسلم راهي)

## سلطان صلاح الدين ايوبي

د صلاح الدين نيکه شادي خان(شادي بن مروان) نه د عربو د نسل څخه وو او نه د ترک نسل څخه، بلکه د کردانو د يوې قبيلې [رواد] پوري اړوند وو، دوی په ارمينيا کې د [دادين] په سيمه کې اوسيدل.

ويل کيږي؛ د شادي بن مروان ډير اولادونه وه خو د تاريخ په کتابونو کې د نجم الدين ايوب او اسد الدين شيرکوه پرته نور نومونه نه ترلاسه کيږي.

خپله د صلاح الدين پلار نجم الدين ايوب هم د دادين سره نيزدې د جانکان په کلي کې پيدا سوی دی، کله چې دادين د زوال سره مخ سو نو شادي خان ته د خپلو اولادونو راتلونکی تياره معلوم سو.

په بغداد کې که څه هم عباسي خلافت د زوال سره مخ وو خو بغداد د زړورو کسانو عزت کاوه، شادي بن مروان هم بغداد ته تګ هوډ وکړ، خو شادي خان په بغداد کې کوم پيژندګلو نه درلود او د کوم پيژندګلو پرته د خليفه دربار ته رسيدل ډير ستونزمن کار وو شادي په يو سرای کې اړولي وه د سرای مالک د ده په دې هوډ خبر سو نو دی يې د جمال الدولة مهروز په لور واستاوه (چې د بغداد سره نيزدې په يو کلي کې اوسيدی) چې پخوا يې هم د شادي خان سره اشنايي درلوده خو هغه يې اوس په کار او روزګار خبر نه

وو.
مهروز که څه هم د يوناني نسل څخه وو خو د کوچنيوالي څخه يې په دادين کې وخت تير کړی وو هغه ډير ذهين او پوه انسان وو ډير ژر د سلجوقي شاهزادگانو نيزدې دوست وگرځيد او بيا د سلجوقي دربار څخه ورته د جمال الدولة لقب ورکړل سو.
شادي خان د مهروز سره پاته سو، کله چې جمال الدولة ته د ولايت مقام ور په برخه سو نو د سلطان څخه يې غوښتنه وکړه چې شادي بن مروان د تکريت د کلا حکمران وټاکي، خو شادي خان تر ډيره ژوندی پاته نه سو.
د هغه له مرگ وروسته يې د کلا حکمراني د هغه مشر زوی نجم الدين ايوب ته وسپارل.
يو وخت امير عماد الدين زنگي د خپل ماتي خوړلي لښکر سره د تکريت حاکم نجم الدين ايوب ته پناه وروړه، نجم الدين هم د هغه ډير زيات خدمت وکړ.
صلاح الدين هم د تکريت په کلا کې پيدا سو.
په کومه ورځ چې صلاح الدين وزيږيد په هماغه ورځ نجم الدين په دې جرم د تکريت د کلا څخه وويستل سو چې ولي يې امير عماد الدين ته پناه ورکړې وه.
نجم الدين هم د موصل د امير عماد الدين زنگي په لور سترگي واړولې او هماالته ولاړ هغه يې د احسان بدله داسي ورکړه، کله چې يې د بعلبک کلا ونيول نو د هغه حکمران يې نجم الدين وټاکه
د عماد الدين زنگي له شهادت وروسته سلطان نور الدين زنگي د حلب ولايت په خپل لاس کې واخيست او موصل يې خپل مشر ورور سيف الدين غازي ته پريښود.
د دمشق والي پر بعلبک کلا حمله وکړه کلا يې په محاصره کې واخيسته نجم الدين ايوب حيران سو چې اوس د موصل د امير څخه مرسته وغواړي او که د حلب د امير څخه، نو يې کلا د دمشق والي ته تسليم کړه او خپله د حلب د امير په لور ولاړ.
کله چې سلطان نور الدين زنگي دمشق ونيو نو نجم الدين ايوب يې د هغه ځای والي وټاکه.
د نجم الدين ايوب زوی صلاح الدين ډير يو بې نومه ژوند کاوه پلار يې د هغه د راتلونکي په اړه انديښمن وو.

صلاح الدین يې خپل میړني ورور امیر اسدالدین شیرکوه ته وسپاره.

اسد الدین شیرکوه د هغه ډیره ښه پالنه وکړه او اخر يې تر داسي ځایه ورساوه چې سلطان نور الدین زنګي ورته د مصر ولایت وسپاره.

او دا هماغه صلاح الدین وو چې تر ۱۵ کلنۍ پوري داسي ژوند وکړ چې حتی چا پیژندی هم نه، خو د سلطان نور الدین زنګي او امیر اسد الدین شیرکوه د هڅو په پایله کې داسي یو نوموتی اتل ځني جوړ سو چې تاریخ به يې تل په خپله غیږه کې ساتي.

**د اقصی فاتح سلطان صلاح الدین ایوبي.**

(سلطان نورالدین محمود زنګي: الماس ایم اې)

## سلطان غیاث الدین غوري

شهاب الدین غوري د بهاوالدین غوري زوی دی، د خپل ورور سلطان غیاث الدین غوري د سلطنت په وخت کې په ۱۱۹۲ میلادي کال د غزني په حکومت مقرر سو او د هغه ځای له تنظیم څخه وروسته هند ته متوجه سو.

هغه لومړی لاهور فتح کړ، او د غزنویانو کورنۍ يې له منځه یووړه، ورووسته بیا د هند د ټولي شمالي برخي د تسخیر په عزم ووت او په لومړۍ مرحله کې يې په پرتوی راج حمله وکړه، پتنه يې په تصرف کې راوسته خو د تانشیر په جنګ کې زخمي سو او بیرته پاته کیدو ته مجبور سو، او خپل وطن ته بیرته راستون سو.

دوهم ځل يې بیا پر هند حمله وکړه او په تانشیر کې يې د خپل دښمن په وړاندي لویه فتحه په نصیب سوه.

کله چې پرتوی راج مړ سو او مملکت يې د غوریانو د حکومت برخه وګرځیده، شهاب الدین غوري قطب الدین ایبک د مفتوحه ولایاتو د چارو په نظارت مقرر کړ.

په ۱۱۹۴ میلادي کال يې پر قنوج حمله وروړه چې جي چند ته يې ماته ورکړه او مړ يې کړ، او د هغه

حکومت يې هم تسخير کړ، او بيرته يې د افغانستان پر خوا رجوع وکړه، دا په هغه وخت کې وو چې د ده معظم ورور سلطان غياث الدين غوري وفات سو او د ده پر ځای سلطان شهاب الدين غوري د غزني او غور په پاچاهۍ وټاکل سو.

د سلطان شهاب الدين غوري په غياب کې بختيار خلجي (چې سلطان هغه د قنوج کې مقرر کړی وو) بيهار او بنګال فتح کړل، په دغه حساب سره د سلطان شهاب الدين غوري د فتوحاتو لمن د امو له رود څخه د بنګال تر خليج او ګوجرات پوري ورسيدل.

سلطان شهاب الدين غوري په ۱۲۰۵ ميلادي کال د جګړې په اراده له خورازم شاهانو سره مخ سو، غوښتل يې د افغانستان شمالي برخي څخه د هغوی له کنټرول څخه وباسي.

هغه د خوارزم خاوري ته داخل سو، او د خوارزم پايتخت يې محاصره کړ او ويې نيوه، خو کله چې پر خوارزم شاهانو باندي مځکه تنګه سوه د ګورخان ختايي د مرستي په استفاده او د عثمان خان سمرقندي په کومک سره يې وکولای سول چې محاصره ماته کړي او سلطان عقب نشينۍ ته مجبور کړي.

د دغي خبري خپريدل په هند کې د بغاوت کولو لامل وګرځيد، نو په نتيجه کې سلطان شهاب الدين د قطب الدين ايبک په مرسته هغوی وټکول، خو متاسفانه کله چې سلطان د اباسين د رود په غاړه خيمه وهلې وه، يو تن د حشيشانو د اسماعيلي ډلي څخه پر سلطان يرغل وروړ او په شهادت يې ورساوه.

دا پيښه په ٦٠٢ هجري سپوږميز کال چې د ١٢٠٦ ميلادي سره سمون خوري وسول.

ستر سلطان د درويشت کاله او اته مياشتي واکمنۍ وروسته د تل لپاره له دې نړۍ سترګي پټي کړې.

(د نيشاپور ګوربت: اسلم راهي)

## سلطان رکن الدين محمود بيبرس

سلطان رکن الدين محمود د منځنۍ اسيا د قيچاق په سيمه کې پيدا سوی، د سلطان د پيدا کيدو څخه مخکي اسلام په بخارا او سمرقند کې د مسلمانو تاجرانو له اړخه خپور سوی وو، په دې اساس سلطان

رکن الدين په يوه مسلمانه کورنۍ کې زيږيدلی، نوم يې محمود اينبودل سو، د رکن الدين پلار خوارزم شاهي په سلطنت کې يو لوړ پوړی چارواکی وو، خو په بدقسمتۍ سره يې د هغه وخت د حکمرانانو سره په کومه خبره اختلاف پيدا سو، او هغه يې په زندان کې واچاوه، او په دې توګه دغه خوشحاله کورنۍ د زمانې د ازمايښتونو سره مخ سوه.

د قيچاق سيمه او د هغې شاوخوا سيمه د مغلو تر حملو لاندې راغله، مغلو چور تالان کاوه، ډير کوچنيان يې د ځان سره د غلامانو په شکل بوتلل، تر څو يې د ليلام په بازارونو کې خرڅ کړي، په دې کوچنيانو کې محمود هم وو، چې دمشق په مارکيټ کې د ۲۰ سرو دينارو مقابل کې خرڅ سوی وو.

محمود يو شتمن مصري چې علي ابن الدرقر نوميده رانيوی، خو هغه د خپلې معاملې په بدل کې هغه پر يو بل مصري خرڅ کړ، هغه مصري محمود د خپلې کوچنۍ لور د خدمت لپاره مقرر کړ، يو ورځ د محمود د څه خطا په وجه د هغه مالکي سخت وواهه، په دې وخت کې د هغه مصري شتمنه خور فاطمه هم موجوده وه، د فاطمې پر محمود زړه وسوځی او له خپل ورور څخه يې محمود وغوښت، ورور يې هم محمود هغې ته ورکړ.

فاطمې محمود له ځان سره واخيست، او دمشق ته يې بوتلی، په حقيقت کې فاطمې د بيبرس په نامه يو زوی درلودی، چې مړ سوی وو، فاطمې به محمود ته د بيبرس په نامه ږغ کاوه، د فاطمې يو ورور د مصر د حکمران په دربار کې په ډيره ستره دنده کار کاوه، هغه يو ورځ د خپلې خور د کتلو لپاره د مشق ته راغلی، هغه د فاطمې په کور کې محمود وليد او د هغه تر غوره اخلاق او ښه کرچار لاندی راغلی، او محمود يې له ځانه سره قاهرې ته بوتلی، هغه د خپل وتلي ذهانت او پوهي لامله ډير ژر د يوې ټولۍ قوماندان وټاکل سو، هغه په کتابونو او حربي فنونو کې زياته تجربه ترلاسه کړه او د مصر په فوځ کې داخل سو.

کله چې د ايوبيانو حکومت پای ته ورسيدی نو پر ځای يې د غلامانو حکومت شروع سو.

د غلامانو د سلطنت د ملک المظفر امير سيف الدين د پاچاهۍ پر مهال محمود د فوځ عمومي قوماندان وو، په ٦٥٥ هـ کال هغه له تاتاري مغلو سره د جالوت د ويالې پر غاړه جګړه وکړه، هغه مغلو ته داسې يوه عبرتناکه ماته ورکړه چې تر دې د مخه مغلو داسې ماته نه وه خوړلې.

په ٦٥٨ هـ کال د ملک المظفر تر وژل کیدو وروسته سلطان رکن الدین بیبرس پر تخت کښیناست، او خپل شاهي نوم یې ملک الظاهر غوره کړ.

(د اسلام تاریخ/ دریم ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي،له غلامۍ نه تر سلطنته: اسلم راهي)

## نظام الملک طوسي

امام ذهبی دده په اړه فرمایي:«لوی وزیر نظام الملک قوام الدین ابو علي حسن بن علي بن اسحاق طوسي لوی، ځیرک، په معاملاتو پوه، نیکبخت، دیندار، او باعزته انسان وو، د ده محفلونه به تل په علماوو ښایسته وه.»

هغه د سلجوقي سلطان الپ ارسلان او د هغه د زوی ملک شاه وزیر وو.

ابن اثیر لیکي: «د نظام الملک په اړه مشهوره ده چې هغه عالم، دیندار، سخي، عادل، صابر، له ګناهونو څخه تیښته کوونکی او خاموش انسان وو، د ده محفلونه به له قاریانو، فقهاؤو او اهل خیر څخه ډک وه.»

هغه یواځې دا نه چې تقوا داره انسان وو، بلکه د هیواد د کارونو نظم یې هم ډېر ښه جوړ کړی وو.

وفات: د ۴۵۸ هـ کال د روژې مبارکي لسمه او د پنجشنبې ورځ وه، د روژه ماتي وخت چې راورسید، نو نظام الملک د ماښام لمونځ وکړ او د سترخوان ته کښیناست، د اسلامي تاریخ تذکره یې پیل کړه، د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې چې کله مسلمانان نهاوند ته ورسیدل نو هغه کومه سیمه وه چې هغوی هلته تم سول؟ د مسلمانانو او فارسیانو تر منځ کومي نښتي وسوې، کوم کوم لوی شخصیتونه وه چې د شهادت جامونه یې وڅښل؟ په دې اړه یې ږغیده، د شهیدانو د یادولو وروسته یې وویل: هغه خلګ نیکبخته وه چې په دې شهیدانو کې وه.

ډوډۍ یې وخوړه، له خپل ځایه راووت او د زنانه وو د کوټې لوري ته روان سو.

حدث دیلمي له هغه سره څنګ په څنګ روان وو، داسي ښکاریده لکه د خپلي کومي تیروتني بخښنه چې ور څخه غواړي او یا ورڅخه د مرستي او کومک هیله کوي، خو د ده نیت ښه نه وو، ناڅاپه یې په نظام الملک برید وکړ.

کله چې يې وروستی سلگی وې، نو وروستي لفظونه يې دا وه: «زما قاتل ونه وژنئ! ما هغه وبخښه، کليمه دي ووايي او محبوب خالق ته يې وسپارئ».

د دې وروسته په شهادت ورسيد.          انا لله وانا اليه راجعون

(عثماني خلافت: دکتور علي محمد الصلابي)

## عثمان (د عثماني خلافت بنسټ ايښودونکی)

کله چې چنگيز خان په اوومي هجري پېړۍ کې پر خراسان حملې پيل کړې، نو د غز ترکان (هغه ترکي قبائل چې د اسلامي حکومتونو په وخت کې يې په فارس او خراسان کې غلاوي او ډاکې کولې) د دوی په مخ کې بې وسه سول، له دې ترکانو څخه ځيني قبائل شام، څوک اذربايجان او ځيني نور ارمينيا ته ولاړل، کوم چې ارمينيا ته ولاړل په هغو کې د يوې قبيلې د سردار نوم سليمان خان وو، چې د سلجوقيانو په خير ډېر ښه، سپين زړی او رېښتونی مسلمان وو، د سليمان ښه سلوک او کرچار نور بې کوره او بې گودره ترکان دې ته اړ کړل چې پر ده را ټول سي.

د چنگيز خان مړيني ته لا درې کاله پاته وه چې چنگيز په ۶۲۱ هـ کال يو ځواکمن فوځ د سلجوقيانو د سلطنت په لور د حملې لپاره وليږه، د سلطنت مرکز قونيه وو، په قونيه کې علاؤ الدين کيقبا سلجوقي واکمن وو، سلجوقي واکمنان به تل له عيسويانو سره په جگړو اخته وه، او د وخت په تيريدو سره دا حکومت ډېر کمزوری سوی وو، کله چې سليمان ته پر سلجوقيانو د مغلو د حملې خبر ورسيد، نو د علاؤ الدين سلجوقي سره د مرستي کولو لپاره يې دا بهترينه موقع وگڼله.

سليمان خپلي قبيلې ته د کوچ کولو حکم وکړ، سليمان د خپلو وگړو لومړۍ ډله د مخکيني فوځ په توگه د خپل زوی ارطغرل تر قومندې لاندي وليږل، د هغوی شمير ۴۴۴ تنه وو.

په کوم وخت کې چې د مغلو فوځ پر سلجوقيانو حمله کړې وه او نيژدې وه چې سلجوقيان ماته وخوري، ارطغرل د خپل لږ شان فوځ سره ور ورسيد، هغه وليدل چې دوه فوځونه يو تر بله په جگړه اخته دي او يو فوځ ډېر ژر مغلوبيدونکی دی، ارطغرل په دې نه پوهيده چې دواړه فوځونه د کوم لوري دي؟ خو هغه د ځان لپاره همدا مناسبه وگڼله چې د کمزوري لوري مرسته وکړي، ارطغرل پر هغه ځواکمن لوري حمله

وکړه او هغوی یې ماتې ته مجبور کړل، وروسته پوه سول چې دوی د سلجوقیانو مرسته کړې ده.
سلطان علاؤ الدین ارطغرل ته د انګورې ښار ته نیژدې یو ځای ورکړ، او سلیمان خان یې د خپل لښکر مشر وټاکه تر څو په راتلونکي کې د ده ملاتړی اوسي.
سلطان علاؤ الدین دې قبائلو ته د سفوت زرخیزه سیمه هم ورکړه چې د سقاریه د دریاب په ښي لوري د بازنطیني (قسطنطنوي) پولو سره نښتې وه تر څنګ یې د سفوت ښار هم وروبخښه، دوی ټول همدلته میشت سول.
سلطان علاؤ الدین ارطغرال خان ته په دې سیمه کې د خپلو فوځونو د ساتلو اجازه هم ورکړه او تر څنګ یې د بازنطیني سلطنت د عسکري کلاوو عسکرو ته د درس ورکولو حکم هم ورکړ.
ارطغرال خان په ټول ژوند کې د سلطان علاؤ الدین د ځانګړې پاملرنې لاندې وو، تر دې چې داسې وخت هم راغلی چې ارطغرال د علاؤ الدین سلجوقي د نائب په څیر د تاتاریانو او بازنطینیانو ګډ فوځ ته ماتې ورکړه، د دې په بدل کې ورته سلطان د بني شهر او بروصه سیمې هم ورکړې.
په ۶۳۴ هـ کال د علاؤ الدین کیقباد له وفات وروسته د هغه زوی غیاث الدین کیخسرو د قونیه پر تخت کښیناست.
په ۶۵۷ هـ کې د ارطغرل په کور کې یو ماشوم پیدا سو، چې نوم یې عثمان ورباندې کیښود، همدا د عثماني خلافت بنسټ ایښوونکی وو.
ارطغرال خان په ۶۸۷هـ کال د ۹۰ کال په عمر وفات سو.
د ارطغرال د مړیني وروسته د هغه زوی عثمان خان د پلار ځای ناستی وټاکل سو عثمان هم د خپل پلار په قدم قدم کیښود او د هغه تګلاره یې تعقیب کړه، سلطان علاؤ الدین ډیر ژر هغه ته د سرلښکرۍ وظیفه ورکړه.
عثمان د سلجوقي سلطان تر لاس لاندې ستري ستري معرکې تر سره کړې چې د دې ډلې څخه د قراجه حصار معرکه تر ټولو مشهوره ده، د دې کلا د فتح په واسطه مسلمانانو اروپایانو ته دا خبر ورکړ چې نور نو د هغوی د حکومت دوران پای ته رسیدونکی دی.
سلطان غیاث الدین خپل میړني سالار عثمان ته د نیزبیګ خطاب ورکړ او هغه ته یې په خپل نامه د

سکې جاري کولو او په خپل نوم د خطبې ويلو اجازه هم ورکړه، او څه وخت وروسته يې خپله لور عثمان ته په نکاح ورکړه، اوس نو عثمان په قونيه کې اوسيده او ډير ژر د وزير اعظم او مدار المهام تر رتبې ورسيدی.

په ٦٩٩ هـ کال سلطان غياث الدين کيخسرو د مغلو سره په کومه جګړه کې ووژل سو.

غياث الدين کيخسرو کوم زوی نه درلود يواځې يې يوه لور درلوده چې د عثمان خان په نکاح کې وه، په دې اساس د هغه له مړيني وروسته د سلطنت اراکينو په يوې رايي سره عثمان خان د قونيا په تخت کښينوی او د خپل پاچا په څير يې ومانه.

(سلطان محمد خان فاتح: ادريس ازاد)

## خادم الحرمين والشريفين

د خادم الحرمين والشريفين لومړی لقب تر ټولو د مخه بايزيد يلدرم خپل کړی وو.

(سلطان محمد خان فاتح: ادريس ازاد)

## ګوډ تيمور

د ګوډ تيمور (تيمور لنګ) سلطنت د چين د ديوال څخه تر کوچنی اسيا پوري او د ارل د بحر څخه بيا د ګنګا تر درياب پوري او ان د فارس تر خليجه پوري غځيدلی وو.

هغه د سکندر مقدوني غوندي د پاچا زوی نه وو، او نه هم د چنګيز غوندي چې د قبيلې مشرتوب د پلار څخه ورته پاته وي، بلکه هغه چې کله را پورته کيدی، نو يوه ډله ملګري يې درلودل.

هغه په ٣٥ کلنی کې خپل ټول دښمنان وځپل، او سمرقند يې دارالسلطنت وټاکه، د دې وروسته هغه په لږه موده کې ٢٧ هيوادونه فتح کړل او ٩ شاهي کورنی يې له فنا سره مخ کړې، هغه د خوارزم ټاټوبی هم ونيو، ايران او مد يې ونيول، امپراتور تبريز او د سلطان ښار يې لاندي کړل، د وريښم او دروازې مځکې يې هم په لاس راوړې، د هند واکوال ته يې ماته ورکړه او د هغه د ټاټوبي يوه ستره برخه يې ونيول، د دمشق ښار يې ونړاوه او د حلب، بابل او بغداد ښارونه يې تر پښنو لاندي کړل.

هغه د انگورې په مشهور جنگ کې د ترک عثماني خلافت څلورم سلطان بايزيد يلدرم ته ماته ورکړه او هغه يې له ځان سره بندي وساته.

د هغه وخت اروپايانو د تيمور قوت شيطاني باله، خو کله چې تيمور د دوی د ملکونو څنډو ته ور ورسيد، د هغوی مشرانو هغه ستر تيمورلان او تاتاري خدای وباله.

د انگليس څلورم هنري هغه په دې الفاظو وستايه: ستر فاتح او معظم شهزاده تيمور.

د هغه د سلطنت په پړاو کې د ويري او ډار بيلگي هم تر سترگو کيږي او رغنيز کارونه هم تر سترگو کيږي.

کله چې هغه د ودانولو په کار لاس پوري کړ، د پخوانيو د معمارۍ تقليد يې ونه کړ او خپله نوې طرحه يې د خپل نظر مطابق پلي کړه، او د غرونو پر سرونو او د دمشق (وړاندي له دې چې وسوځي) په گنبدو کې يې تري کار واخيست، هغه د تيمور ښې طرحي او نقشې وې چې د روسانو د ودانيو او دغه راز د تاج محل د رغولو لپاره تري کار واخيستل سو.

تيمور د خپل وروستي مخالف واکوال د ماتولو لپاره د هغه و لوري ته حرکت وکړ، خو د لاري په منځ کې ومړ.

(سلطان بايزيد يلدرم: اسلم راهي، سلطان محمد خان فاتح: ادريس ازاد)

## د عثماني خلافت لومړنی خليفه

په ۹۲۲ هـ کال سلطان سليم پر مصر حمله وکړه او هلته يې د غلامانو د دريمي طبقې حکومت ختم کړ او عباسي خليفه يې ونيوی.

عباسي خليفه د مقدسو مقاماتو کنجيگاني، د رسول الله صلی الله عليه وسلم مبارکه توره، علم او څادر د خلافت د سند په توگه سلطان سليم ته ورکړل، په دې توگه هغه د عثماني خلافت لومړی خليفه دی.

د همدې وروسته د عثماني خلفاؤو نومونه په خطبه کې اخيستل کيدل.

(د اسلام تاريخ/ دريم ټوک: مولانا اکبر شاه نجيب ابادي)

## د حشیشانو په لاسو وژل سوي شخصیتونه

نظام الملک طوسي[1] رحمه الله د الپ ارسلان وزیر، ملک شاه سلجوقي رحمه الله بن الپ ارسلان، فخر الملک رحمه الله بن خواجه نظام الملک، شمس تبریز رحمه الله، د طریقت پیر مولانا جلال الدین بلخي رومي رحمه الله، د خوارزم شاه وزیر نظام الملک مسعود بن علي رحمه الله او سلطان شهاب الدین غوري رحمه الله.

ځیني اروپایي عیسوي پاچاهان هم په ځانګړي توګه د یادوني وړ دي.

پر سلطان صلاح الدین ایوبي رحمه الله او امام فخر الدین رازي رحمه الله باندي هم حشیشانو څو ځله حملې کړي دي.

(د اسلام تاریخ/ دریم ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي)

## ابن بطوطه

په ۱۳مه پیړۍ کې ابن بطوطه چې د اسلامي قانون یو عالم وو او د مغرب څخه وو، شاوخوا (۱۷۰۰۰۰) کیلومتره سفر یې وکړ، د هغه په سفرونو کې لویدیځه افریقا، چین، هندوستان او جنوب ختیځه اسیا شامله وه.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## ملا مشک عالم

اصلي نوم: ملا دین محمد

کله چې د غازي محمد جان خان په مشري د وردګو، لوګر، اندړو، کټواز او شلګر غازیان پر کابل باندي د انګریزانو د واک د پای ته رسیدو لپاره روان سول (چې د امیر محمد یعقوب خان سره یې د ګندمک تړون لاسلیک کړی وو، او پوره واک د دوی په لاس کې وو)، نو د ملا مشک عالم (چې په دې وخت کې د ډیر عمر خاوند وو) کټ چې څلورو غازیانو نیولی وو، د لښکر په مخکې د دې لپاره وړل کیده چې

غازیانو ته د حوصلې د اوچتولو بیان وکړي، هغه که څه هم د ډېر عمر وو او د دې وړ نه وو چې د جنګ په میدان کې برخه واخلي خو دا یې نه خوښوله چې له جنګ څخه پاته سي ځکه یې د جنګ په لومړیو صفونو کې برخه اخیستله.

(د ازادۍ لیونی: ګل رحمان رحماني)

## د لیبیا مجاهد

د طرابلس مجاهد (عمر المختار)

پوره نوم: عمر بن مختار بن عمر

عمر المختار د متفه په مشهوره او میړنۍ تورزنه قبیله کې د فرحان په کورنۍ پوري مربوط وو، عمر المختار ته د سنوسي د اسلامي تحریک د علماوو د شاګردۍ ویاړ حاصل وو، کله چې لوی سو د طرابلس په لوړو علمي شخصیتونو کې وشمیرل سو.

هغه د عمر له لومړیو څخه د ایټالویانو له اشغال سره مخالف وو، کله چې ترکانو د مجبورۍ له امله د ایټالویانو واکمني پر طرابلس ومنل، عمر مختار ډېر سخت مخالفت ښکاره کړ.

سید ادریس(چې د مجاهدینو قیادت ورتر غاړي وو) خپله دنده د عمر المختار غاړي ته ور واچول او هغه یې د طرابلسي مجاهدینو مشر وټاکه، او خپله مصر ته ولاړی.

د عمر المختار په قیادت کې مجاهدینو و ایټالویانو ته ډېره سخته ضربه ورسوله.

شهید شیخ دوکتور عبدالله عزام په یو کتاب کې لیکلي دي:
په ایټالیا کې د ظلم، وحشت او استبداد په وجه تر ټولو زیات مشهور سوی جنرال ګراتسیاني په خپل کتاب کې د لیبیا د اصلي مجاهد عمر المختار په اړه داسي لیکلي دي:
زما د خدمت په دوره کې عمر المختار زموږ تر ټولو زیات په عصري امکاناتو مجهز پوځ سره د ۲۰ میاشتو په دوران کې ۲٦۰ شدید جنګونه وکړل او په پای کې به روغ رمټ په غټه کامیابۍ سره بیرته خپل ځای

ته ولاړی، دا هغه جنګونه دي چې زما سره یې یادانښت سته که هغه جنګونه یې حساب کړم چې له ما مخکې کړې دي شمیر یې تر ۱۰۰۰ اوړي، ما به په هر جنګ کې په پوره یقین سره دا فکر کاوه چې زموږ د دې غټ لښکر په مقابله کې به دی پاته راځي او ژوندی به یې نیسو، خو دی به په ډېر غټ موافقیت سره زموږ له لاسه ووتی.

مجاهدینو ډېر سخت جنګونه وکړه، خو څرنګه چې اشغالګرو ته هر ډول مرسته رسیدل، او د مجاهدینو څخه خپلو مسلمانو وروڼو لاس اخیستی وو د همدې لامله مجاهدین ورځ تر بلي کمزوري کیدل، خو مقاومت یې نه پریښودی.

۱۹۳۱ میلادي کال ایټالویانو سخت عملیات شروع کړل، یوه ورځ یې له سهار څخه د غارمې تر یوه بجې پوري په جغبوب کې بمبار وکړ او جغبوب د مجاهدینو له لاسه ووتی او سقوط یې وکړ، مجاهدین و کفرې ته روان سول خو په لاره کې خبر ورته ورسیدی چې کفره له خاورو سره خاوري سوې ده.

د غرونو زمری غیرت مند اویاکلن مجاهد عمرالمختار د جبل الخضر په غرونو کې محاصره وو.

د ۱۹۳۱ میلادي ۱۱ ستمبر د سهار له لمانځه وروسته ۲۲ نفره مجاهدین (چې ذخیرې یې له منځه تللي وې) د خپل رهبر په قومنده د یوه شنه غره لمني ته ورسیدل، او د غره سر ته په ختلو یې شروع وکړه، خو لا څو متره نه وه ختلي چې له هري خوا وربانديي د مرمیو باران شروع سو، مجاهدینو هم مقاومت وکړ، خو فائده یې نه درلوده، ځکه چې دښمن ټول حاکمي نقطې تر لاس لاندي راوړي وې.

له سخت جنګ وروسته چې د مجاهدینو سره مرمۍ خلاصي سوې یواځې درې نفره ژوندي پاته وه چې ایټالویانو ته په لاس ورغله، یو عمر المختار وو او نور یې دوه قومندانان وه، د هغه قومندانان یې همالته په شهادت ورسول او عمر المختار یې له ځان سره یووړ.

عمر المختار اوس د هغه ګراتسیاني مخته ولاړ وو چې د عمر د نامه په اوریدو به لړزیدی، او اوس یې هم د لاس او پښې تړلي عمر په مخ کې د خوښۍ اظهار نسوای کولای، ځکه دومره جرئت یې نه درلودی چې د هغه په مخ کې خوښي وکړي.

د عمرالمختار د زخمي لاس وینه وچه سوې وه او مبارک مخ يې په دوړو لړلی وو خو بیا هم یو مجاهد وو په ځیره کې يې هماغه هیبت او جلال وو، ګراتسیاني د عقابي سترګو د لیدلو توان نه درلودی.

ګراتسیاني په ډیر ادب او رسم تعظیم (کوم چې په عسکري مراسمو کې رواج لري) سره د عمر المختار په مخ کې ودریدی په ټیټ ږغ يې وویل:

ښاغلی عمرالمختار! بیشکه ته د زړه ور او غیرتي دښمنانو له ډلي څخه يې، له همدې امله زه تاته په فوق العاده احترام قایل یم، شاید ته به باور ونکړې خو زه چې تا په دغه حالت کې وینم ډیر زیات افسوس کوم.

خو د هغه مسؤلیت په اساس چې زه يې لرم و تاسو ته یو پیشنهاد عرض کوم؛ که ته وعده وکړې وروسته له دې به ارام ژوند کوې او د ایټالیا نظامي حاکمیت په رسمیت پیژنې، نه یواځې دا چې تا به ازاد کړو بلکې معاش به هم درته وټاکو.

د ستر مجاهد ځیره د ډیر قهر لامله سره وګرځیده او ویې ویل: همدا اوس دې ماته د غیرتي دښمن خطاب وکړ خو کوم وړاندیز چې تا اوس وکړ ډیر لوی توهین دی، عمر المختار د یوه نفر نوم نه دی، دا د طرابلس د مسلمانانو د ازادۍ د روح نوم دی، زما دې د کعبې په رب قسم وي، که ته د ایټالیا ټوله شتمني زما په پښنو کې امبار کړې زه به دا سودا ونکړم، ما د خپل خدای جل جلاله او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره وعده کړې ده، چې تر اخیري سلګۍ پورې به د دین، وطن او قوم لپاره جهاد کوم، زه په خپله هماغه وعده ولاړ یم، ته کولای سې عمرمختار اعدام کړې خو د ایمان او ازادۍ جذبه يې نسې وژلای.

ګراتسیاني امر وکړ چې عمر مختار دې په څلورلاري کې اعدام سي او د اعدام په وخت کې دې ټوله بندیان (چې تقریبا له ۸۰۰۰۰ څخه تر یو لک کسانو پورې عرب وه) ورته حاضر سي تر څو د خپل رهبر اخرنی انجام په سترګو ویني.

د ۱۹۳۱ کال د ستمبر په ۱٦ د ستر مجاهد عمرمختار و غاړي ته د دار هغه رسۍ ولويدل چې له مخکې ورته تياره سوې وه، د زرگونو اوښکو په وړاندي په داسي حال کې د خپل خالق سره يو ځای سو چې د اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمد عبده ورسوله کلمه يې پر ژبه جاري وه.

هغه شهيد سو خو کوم د ازادۍ څراغ چې يې بل کړی وو خاموش نه سو.

د دوهم نړيوال جنگ وروسته ايټالوي يرغلگرو د طرابلس خاوره پريښودل او په ۱۹۵۱ کې ملگرو ملتونو د طرابلس هيواد په رسميت وپيژندی او نوم يې ورته ليبيا کښيښود، اول حکمران يې سيد ادريس وټاکل سو، خو په ۱۹٦۹ کې د يوې نظامي کودتا په اثر شاهي نظام ونړيدی او پر ځای يې جمهوري نظام راغی، او طرابلس په جمهوري ليبيا ياد سو.

(د طرابلس زمريان: ژباړن: جمشيد ناصري)

# ۳: ځایونه

## قسطنطنیه

قسطنطنیه د خپل جغرافیایي جوړښت له اړخه په نړۍ کې یواځینی ښار وو، د دې ښار نوم هم په مختلفو زمانو کې بدلیدی، پخوانی نوم یې زارغراد او وروسته میکله غارو تري جوړ سو، په یوناني او رومي وختو کې ورته بیزنطیه ورته وایه بیا په دریم عیسوي پیړۍ کې رومي پاچا قسطنطین هغه خپل پایتخت وګرځاوه او بیا د همدې پاچا په نامه قسطنطنیه وګرځید، نوی روم هم ورته ویل کیده او عربو ورته د مدینة الروم نوم ورکړی وو.

د روم ښار چې په ایټالیا کې دی، ۷۵۰ قبل المسیح (د عیسی علیه السلام د پیدائښت څخه مخکې) اباد سوی دی، په ایټالیا کې د ټیمز په نامه یو دریاب دی، دا دریاب د شمال له لوري راځي او د روما څخه تیریږي او ۲۵ میله لري د روم په بحیره کې توییږي، یو وخت دا دریاب د تجارت لویه لار وه.

د دې دریاب په غاړه یو ځای دی چې د خپل ښائست او په زړه پوري لامله ډیر مشهور دی، ۷۵۰ قبل المسیح کې تجارانو دلته یو سرای اباد کړ او بیا همدا سرای په لوی ښار باندي بدل سو چې اوس ورته د روم ښار وایي.

د مسیح علیه السلام څخه مخکې په ٦ پیړۍ کې هلته یوې اسیایي قبیلې سر را پورته کړ چې د تارکینو په نامه یادیدل، په ۵۰۹ قبل المسیح کې تارکینو دلته یو حکومت جوړ کړ چې د اروپا لومړی جمهوریت ورته ویل کیږي، همدې جمهوریت په شاوخوا ټولو قبائلو حاکمیت پیدا کړ، تر دې چې په ۲٦۵ قبل المسیح کې روم دځانګړې ځواک مرکز وګرځید.

اوس نو د فتوحاتو لړۍ پیل سوې وه؛ په ۱۹۷ قبل المسیح کې د سپین ښار، یو کال وروسته شمالي افریقا او مقدونیا، په ٦۴ قبل المسیح کې شام، په ۵۰ قبل المسیح کې فرانسه او بلجیم، په ۹ عیسوي کال کې جرمني، په ۴۴ عیسوي کال کې برطانیه، په ۱۰۵ عیسوي کال کې فلسطین، په ۱۱۴ عیسوي کال کې ارمینیا او په ۱۱۷ عیسوي کال کې عراق د رومیانو د سلطنت برخي وګرځیدې.

«کارنیلیس سلا» د هغه وخت یو مشهور جرنیل وو، چې جمهوریت یې له منځه یووړ او مارشلایي نظام یې جوړ کړ، خو د هغه په خلاف تحریک وچلید چې «سلا» بیرته مجبور سو او جمهوریت ته راوګرځید.

«جولیس سیزر» د «سلا» د غونډي غړی وو، په ۵۸ قبل المسیح کې د فرانسې والي وټاکل سو، هغه پر برطانیه یرغل وروړی او د ټیمز تر دریابه پوري ورسید، «سلا» د دې څخه وویریده چې هڅي نه د «سیزر» دیکتاتور جوړ سي، په دې خاطر یې په ۵۰ قبل المسیح کې حکم وکړ چې «سیزر» دي فوځ بیرته له منځه یوسي، «سیزر» په دې خبره په قهر سو او په روم یې ولکه وکړه او په ریښتیا یو دیکتاتور جوړ سو.

د «سیزر» څخه د رومي شهنشاه لړۍ پیل سوه، او بیا په ۳۰۵ عیسوي کال کې د روم شهنشاه لومړی قسطنطین وزیږید، هغه په ۳۳۰ ع کې د بائیز په نامه یو کلی خپل پایتخت وگرځاوه او بیا یې دا کلی د قسطنطین په نامه ونوماوه.

د لومړي قسطنطین له مرگ وروسته د هغه د زامنو تر منځ اختلافات پیدا سول او سلطنت یې په دوو برخو وویشه، هغه برخه چې په قسطنطین کې وه د قسطنطین په نامه او هغه برخه چې په روم کې د روما په نامه یاده کړل سوه.

د لومړي قسطنطین څخه بیا تر دوولسم قسطنطین پوري په قسطنطنیه کې ۸۲ شهنشاهان تیر سوي دي، چې په دې ډله کې یواځي د قسطنطین په نامه ۱۲ شهنشاهان وه، دې شهنشاهانو ته د روم قیصر هم ویل کیده.

دریم قسطنطین (هرقل) ځکه ډیر مشهور دی چې هغه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم په ٦۳۰ ع کې یو لیک واستاوه او د اسلام په لور یې بلنه ورکړه، خو هرقل که څه هم اسلام ونه مانه خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قاصد یې ډیر درنښت وکړ.

د عثماني سلطنت د اووم سلطان، سلطان محمد خان فاتح په وخت کې په قسطنطنیه کې دوولسم قسطنطین پاچاهي کوله، چې همدا د قسطنطیه وروستی شهنشاه وو.

(سلطان محمد خان فاتح: ادریس ازاد)

## اصفهان

د بابل حکمران بخت نصر د یهودانو د ابادولو لپاره د اصفهان ښار تعمیر کړ، خو د مسلمانانو د دویم

خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت په زمانه کې په ۱۹ هجري کال فتحه سو.

مشهور تاریخپوه طبري ددې فتحي وخت ۲۱ هجري کال په ګوته کوي خو د یوه بل روایت له مخي دا ښار د سیدنا ابو موسی الاشعري رضی الله عنه په لاس د نهاوند د فتحي نه وروسته فتحه سوی دی.

۲۴۷ هجري کال د المعتمد د حکومت په وختو کې په دې ښار کې بغاوت وسو خو هغه باغیان وځپل او ښار یې په خپله ولکه کې واخیست.

په ۳۰۱ هجري کال کې دا ښار د سامانیانو په ولکه کې راغی او په ۴۴۲ هجري کال کې ورته غزنویان ننوتل، د منګولو د حملې په وخت کې خوارزم شاه سلطان جلال الدین تر قومندي لاندي د ښار د دیوالونو سره سخت جنګ وسو چې وروسته بیا دا ښار د منګولو د سلطنت یوه برخه وګرځیده.

ګوډ تیمور په دې ښار کې اویا زره اوسیدونکي له تیغه تیر کړل او د هغه وروسته څو کسو نورو حکمرانانو هم د دې ښار ابادي له منځه وړې او اوسیدونکي یې بې دریغه وژلي دي.

د صفوي کورنۍ د حکومت په وخت کې دا ښار په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د یوه هیواد سلطنت وګرځید او هغه تري یو ښکلی ښار جوړ کړ.

د میرویس خان نیکه د مرګ څخه اوه کاله وروسته د هغه زوی محمود اصفهان ونیو.

د نادر شاه په وخت کې دا ښار په امن کې وو، خو د ۱۹۱۴ څخه تر ۱۹۱۸ پوري دا ښار د نړیوالو ځواکونو په لاسو کې اوښتی.

په ۱۹۱۷ عیسوي کال کې پري انګلیسیانو ولکه وکړه.

په اوسني وخت کې اصفهان د صنعتي ښار بڼه نیولې ده بې شمیره کارخانې شتون پکښې لري.

(ابو مسلم خراسانی: اسلم راهي)

## بـــلخ

بلخ د نړۍ په ډیرو پخوانیو او مشهورو ښارونو کې شمیرل کیږي ویل کیږي چې د سکندر اعظم له فتحو وروسته د بلخ په نامه دغه ښار د یوه یوناني باختري ریاست د مرکز په څیر موجود وو.

په ۶۲۸ عیسوي کال کې یوه چینایي بدهـ بهکشو هوانک سانګ دلته راغلی وو، د هغه د وینا له مخي

هغه وخت د بلخ په ښار کې د بتانو نيزدې سل عبادتځايونه وه.
د سيدنا عثمان رضی الله عنه د خلافت په دوره کې انس بن قيس دا ښار فتح کړ.
په ۴۲ هجري کال کې قيس بن هشيم يو ځل بيا په دې ښار ولکه وکړه او د بدهـ مت د عبادتځايو مجموعه يې چې د نوبهار په نامه ياديده مکمله توگه له منځه يووړه.
برمکيان چې د مندرونو ساتونکي وه، په څرگنده توگه يې اسلام ومانه او د عربو اطاعت يې قبول کړ.
د سيستان او د طاس هلمند بادشاه نيزک ترکهان هم په څرگنده توگه اسلام ومانه خو بيا وروسته مرتد سو او بلخ يې د عربو د ولکې څخه وويست.
په ۹٦ هجري کال مسلمانانو يو ځل بيا په دې ښار ولکه وکړه.
په ۱۰۷ هجري کال د خراسان والي اسد بن عبدالله خپل پوځ او د حکومت مرکز بلخ ته را منتقل کړ او دا ښار يو ځل بيا اباد سو.
په ۹۰۰ عيسوي کال سامانيانو د بلخ په ښار ولکه وکړه، ددوی د ولکې په وخت کې دې ښار پر مختگ وکړ.
په دې وخت کې ښار په دوو برخو ويښل سوی وو او د ښار شاوخوا سيمو ته يې ربص ويل.
په ۱۰۴۰ عيسوي کال سلجوقي سردارانو په دې ښار ولکه وکړه چې تر ۱۱۵۵ پوري يې دوام وکړ، خو ددې وروسته دا ښار وران ويجاړ وگرځيد.
خو د بلخ نوي حاکم امير قوماچ په يوه نوي ځای او پراخ ميدان کې دا ښار له نوي سره اباد کړ.
تر ۱۱۹۸ عيسوي کال پوري دا ښار د تبت د کراختيانو په لاسو کې وو، د هغه وروسته بيا د غوريانو و لاسو ته ورغی.
په ۱۲۰٦ عيسوي کال کې پري خوارزم شاهانو ولکه وکړه خو په ۱۲۲۰ کال کې چنگيز خان له خاورو سره خاوري کړ.
د څوارلسمي عيسوي پيړۍ په پيل کې دا ښار يو ځل بيا کيک خان تعمير کړ خو کله چې گوډ تيمور ولکه پري وکړه نو د پخواني ربص وراني ويجاړي يې بيرته ورغولې.
د ازبکو د حکومت په دوران کې د پخواني بلخ تر څنگ په شمالي شرقي برخه کې د نوي بلخ تر نامه لاندي يو نوی کلی جوړ کړل سو.

په ١٦ عیسوي پیړۍ کې بلخ یو ځل بیا د زوال سره مخ سو او کرار کرار په ورانو ویجاړو بدل سو، د ښار د ابادۍ ډیري برخي د مزار شریف په لور کوچ وکړ.
په ١٧٥٠ عیسوي کال د احمد شاه ابدالي یو وزیر شاه ولي د بلخ او بدخشان سیمي د احمد شاهي سلطنت پوري اړوند وګرځولې.
د ١٩٠١ عیسوي کال څخه تر اوس پوري مزار شریف او بلخ د افغانستان د یوه ولایت په څیر موجود دي.
نوی بلخ په ١٩٣٣ عیسوي کال کې د افغانستان د هغه وخت د کورنیو چارو وزیر محمد ګل خان لخوا تعمیر کړل سو، چې بیا یې نوم بدل او د وزیر اباد په نامه یاد کړل سو.
د بلخ په سیمه کې د ډیرو پخوانیو بزرګانو او مشهورو صوفیانو مقبرې او مزارونه شتون لري چې مشهور یې د خواجه ابو نصر او خواجه عکاشه مزارونه ګڼل کیږي.

(ابو مسلم خراسانی: اسلم راهي)

## نیشاپور

د نیشاپور د ښار بنیاد د لومړي اردشیر زوی شاپور کیښود، نو له همدې امله هغه ته منسوب دی.
د عربو جغرافیه لیکونکو له مخي دا علاقه په دوه څلویښت برخو باندي مشتمل وه چې په هغه کې لویه قلعه او څلور خواته یې ماڼۍ او کورونه، تعلیمي مرکزونه او تفریحي ځایونه، باغونه او د کښت ځمکي بازار او میلمستونونه او د هغه څلور خوا ته په لږي فاصله کې لوړ غرونه چې دنګو او لوړو وونو او ګڼو بوټو باندي پټ کړي وه؛ ښکلی منظر یې وړاندي کړی وو.
د امیر المؤمنین حضرت عثمان ذوالنورین رضی الله عنه د خلافت په وخت کې مسلمانانو د جګړې پرته هغه سیمه ونیوله.
نیشاپور د خراسان په مشهورو ښارونو کې شمیرل کیدی، په هغه کې هر قسم معدانیات پیدا کیدل او خلګو یې په خوشحالۍ سره د ژوند شپې ورځې تیرولې.
په ٦١٥هجري کال چنګیز خان نیشاپور ونیوی، د مغلو لښکرو په دغه سیمه کې ژوندی انسان

پرینښودی او ټولي سیمي ته یې اور ورته کړ.
مؤرخین وایي له هغه وروسته نیشاپور هغه مقام حاصل نه کړ، کوم چې مخکې وو.
اوس هم نیشاپور سته خو د وړاندي په نسبت ډیر کوچنی دی.
د مؤرخینو د لیکنو له مخي نیشاپور په هغه زمانه کې لس لکه ابادي درلوده خو اوس د پنځوسو زرو څخه زیاته نه ده.

(د نیشاپور گوربت: اسلم راهي)

## ترکستان

د اوسني چین د سنگیانک ایالت او د منځنۍ اسیا پنځه نور هیوادونه (قزاقستان، ازبکستا، ترکمنستان، تاجکستان او قرغزستان) هغه پراخه سیمه ده چې د ترکستان په نامه یادیږي، د سینگانک ایالت ختیځ ترکستان او یاد نور پنځه هیوادونه لویدیځ ترکستان بولي.
دې سیمي ته په لومړۍ هجري پیړۍ کې اسلام رسیدلی، ویاړلی او مشهور قوماندان قتیبه بن مسلم الباهلي د ۹۴ او ۹۶ هجري تر منځ د اوسني ختیځ ترکستان د کاشغر ښار فتح کړ او اسلامي مرکز یې وگرځاَوه.
دغه سیمه د پیړیو لپاره د اسلامي دولت لخوا اداره کیده، چې د نهمي میلادي پیړۍ له نیمایي څخه د دیارلسمي میلادي پیړۍ تر پایه په دې سیمه کې مستقل اسلامي دولت واکمني کړې چې د قراخانیانو د دولت په نوم یادیده.
د ترکستان سیمه د حاکمانو د بې غورۍ له امله د گاونډیو دښمنانو (چین او روسیه) په دوو برخو وویشه او بیا یې اشغال کړه، ختیځ ترکستان چین اشغال کړ او د سینگیانک نوم یې پري کښیښود، او لویدیځ ترکستان روسانو ونیو او د شوروي اتحاد سره یې یوځای کړ.
ترکستان هغه خاوره ده چې البخاري، الترمذي، البیهقي، الفارابي، البیروني، الزمخشري، ابو منصور الماتردي، عبدالله بن مبارک، فضل بن عیاض، سفیان ثوري او ځیني نورو مشهورو شخصیتونو خپل ماشومتوب تیر کړی دی.

## تدمر (پالمائر یا پالمیره)

دا د عراق یو پخوانی ښار وو چې د دمشق په شمال کې په یوه نخلستان کې اباد سوی وو، د دې ښار وجود او قدامت دوولس پیړۍ قبل المسیح (د عیسی علیه السلام څخه دوولس پیړۍ مخکي) ثابتیږي چې وروسته یې بیا د نوي عیسوي سنې د پیل کیدو څخه لږ مخکي نوم یاد کړل سوی دی.

د تدمر د ښار په اړه دا هم ویل کیږي چې دا دسلیمان علیه السلام په وخت کې اباد کړل سوی دی.

کله چې د رومن سلطنت یوه برخه وګرځیده نو ډیر ارځښت یې پیدا کړ او ستر تجارتي مرکز تري جوړ سو.

په دریمه عیسوي پیړۍ کې د تدمر خلګ د یوه داسي سلطنت په فکر کې سول چې دارالحکومت یې همدا د تدمر ښار وي هماغه وو چي د دې ځای حاکم د ایرانیانو تر مخ خپل خدمتونه وړاندي کړل، خو کله چې هغوی د ده وړاندیز ونه مانه نو بیا د رومنیانو سره یو ځای سول او ایرانیانو ته یې ماته ورکړه .

د روم قیصر د هغوی د کړچار څخه د خوشحالۍ په خاطر د رومنیانو ټولي شرقي برخي ور وریښبودې.

په ۲۶٦ عیسوي کال کې د تدمر حاکم د مړیني وروسته د هغه زوی د هغه ځایناستی وټاکل سو، خو د حکومت ټوله واکمني د هغه د مور زنوبیه په لاسو کې وه، چې په تاریخ کې ورته د ملکه زنوبیه نوم ورکول سوی.

په لږه موده کې د تدمر خلګو د رومنیانو په خلاف بغاوت وکړ.

په ۲۷۰ عیسوي کال کې د دواړو تر منځ جنګ وسو چې ملکې زنوبیه ماته وخوړه، خو کله چې د تدمر خلګو دویم ځل بغاوت وکړ نو رومنیانو دا ښار خاورو سره خاوري کړ د دې وروسته د دې ښار ټول عظمت له منځه ولاړ خو یو ځل بیا تعمیر کړل سو او د عیسویت دین پکښې خپور سو.

مسلمانانو دا ښار د سیدنا خالد بن الولید رضی الله عنه په قومنده فتح کړ.

لومړی یې د مقابلې لپاره ځانونه تیار کړل خو وروسته یې په دې شرط وسله کښیښود چې د ذمیانو ټول حقوق به ورکول کیږي.

د یزید په زمانه کې یې بیا بغاوت وکړ خو یزید د مشق د فتحي وروسته خپل یو سالار ور ولیږه او هغوی

بیرته اطاعت قبول کړ.

کله چې مروان ثاني (د اموي خلافت اخري خلیفه) خلیفه سو نو د دې ځای اوسیدونکو د اطاعت څخه مخ واړوی، مروان خپله د بغاوت ماتولو لپاره د یوه لښکر سره راغی په ښار یې حمله وکړه او ټول یې تابع کړل.

په ۱۱۵۷ عیسوي کال دا ښار د یوې زلزلې په واسطه ډیر زیانمن سو.

په ۱٦۷۸ عیسوي کال د حلب د انګریزي کارخانې مالکانو د دې ښار پخوانۍ نښې را پیدا کړې او یو ځل بیا یې اباد کړ.

(ابو مسلم خراسانی: اسلم راهي)

## قبة الصخرة

ابن کثیر رحمه الله لیکي: عبدالملک بن مروان چې کله د بیت المقدس د تعمیر اراده وکړه ډیر مال او کاریګر یې ورولیږل، د تعمیر چاري یې رجاء بن حیوة او د یزید بن سلام پر ذمه ورکړې، د مختلفو ښارونو څخه یې د تعمیر او بناء ماهرین را جمع کړل و بیت المقدس ته یې ولیږل، و رجاء بن حیوة او یزید بن سلام ته یې وویل چې د مال په مصرفولو کې هیڅ سپما ونکړئ او کار متوقف نکړئ جاري یې وساتئ، هغوی هم داسي وکړل، قبة یې جوړه کړه، په رنګینو مرمرو یې فرش کړه، متعدد النوع مزینې پردې یې پکښي وزړولې، خادمان یې ورته ونیول، د خوشبویۍ او عطرو پاښلو لپاره یې نور کسان ورته وټاکل، قسم قسم خوشبویۍ، مشک او عنبر به یې پکښي وهل، کله چې به یې د خوشبویۍ وخت سو د لیري څخه به محسوسیده، خلاصه دا چې په خپل وخت کې د نړۍ پر مخ تر ټولو ښائسته عمارت یې وو، کله چې رجاء بن حیوه او یزید بن سلام فارغ سول لا هم د هغه مال څخه شپږ سوه زره مثقاله سره زر پاته سول، و عبدالملک بن مروان ته یې خط ولیږه چې دا اندازه مال پاته سو، هغه ورته وویل چې هغه ستاسو دوو دی، دوی بیرته حال ورکړ که موږ کولای سوای د خپلو میرمنو د غاړګیو زر به مو لا پکښي استعمال کړي وای، مطلب دا چې نه یې غواړو، عبدالملک بن مروان ورته حال ولیږه چې تاسو یې نه غواړئ پر قبې او دروازو یې ور توی کړئ یعني هغه هم په مصرف کړئ، قبې د سرو زرو رنګ واخیست، قدیم او جدید

سره زر ورباندي وه.

(اموي خلافت: مولوي عبدالرحمن محمود)

## بغــداد

د بغداد ښار د عباسیانو د دویم خلیفه ابوجعفر منصور په واسطه په ۱۴۵ هجري کال کې د سرساني کلي تر څنګ اباد کړل سو.

لومړی یې نوم مدینة السرام ایښودی و، نن سبا دا ځای د عراق دارالحکومت دی، دا ښار د دجلې د سیند په دواړو غاړو کې اباد سوی دی.

د بغداد ښار دومره ښائسته وو چې شاعرانو ورته د ځمکي پر سر د جنت نوم ورکړ.

خو بغداد ته د مامون الرشید او امین الرشید له اړخه د خپل منځي جګړو په واسطه ډیر زیان ور ورسید.

خو د مامون په وخت کې یو ځل بیا بغداد خپل پخواني شان و شوکت ته ستون سو.

پر بغداد ترکانو هم حمله وکړه په ۲۵۱ هجري کال عسکري ځواکونو ټول بغداد تر کلابندۍ لاندي ساتلی وو.

په ۲۷۸ هجري کال معتزد د دې ښار په لور توجه وکړه او یو ستر قصر د ثریا په نامه جوړ کړ.

په ۲۸۹ هجري کال کې الملسفي هم هلته یو قصر اباد کړ او د جامع القصر په نامه یې یو جومات هم تعمیر کړ.

د مقتدر د حکومت په دوران کې بغداد د ابادۍ او تجارت له اړخه یو نړیوال ښار وو.

د خلیفه الموفق په وخت کې د جوماتونو شمیره درې لکه حسابیږي.

په ۳۸۳ هجري کال کې د حمامونو شمیره دوه نیم زره وه او په روایاتو کې هم راغلي چې یو حمام د دوه سوو کورونو لپاره کار کاوه.

د جوماتونو د مساحې د په نظر کې نیولو سره به د جمعة الوداع په ورځ د منصور په جامع مسجد کې تر ۶۴ زره کسانو پوري لمونځ کوونکي وه.

په څلورمه هجري پیړۍ کې د دې ځای د خلګو ابادي پنځلس لکه کسان ښوول سوي دي.

په ۳۰۸ هجري کال کې د کرخ د اور سوځيدونکي پيښي په واسطه بغداد ته پوره زيان ورسيد او د دې اور سوځيدو نښي تر ۳۲۳ هجري کال پوري تر سترګو کيدې.

د عزالدوله په وخت کې يې د ټولو کورونو او بازارونو له سره د جوړيدو حکم وسو. او د هغه ځای ستر جومات هم له سره جوړ سو.

د دې ټولو حالاتو سره سره بيا هم آل بويه د بغداد لپاره هيڅ ډول خدمت و نسو کولای.

په ٦٥٦ هجري کال منګولو (تاتاريان) په بغداد باندي يرغل وکړ، د بغداد اوسيدونکي په پرلپسې توګه له تيغه تيريدل چې د مړو شميره د اته لکو او شل لکو تر منځ ګڼل کيږي، د بغداد ثقافت او فرهنګ او سياسي ارزښت بلکل ختم سو اقتصاد يې تباه سو او د منګولو د حملې وروسته دا ښار د يوه ولايت مقام وګرځيد.

په ۸۰۳ هجري کال تيمور لنګ (ګوډ تيمور) په بغداد حمله وکړه، د ښار اوسيدونکي يې بې دريغه ووژل، د تيمور لنګ حمله د بغداد په ثقافت باندي يو سخت ګوزار وو.

په ۸۱۰ هجري کال ترکمنو په بغداد ولکه وکړه د ترکمنو د ولکې په وخت کې د دې ښار حالات نور هم خراب سول.

سيلابونو هم د دې ښار په خرابيو کې ډيره مرسته کړې ده.

په ۸۴۱ هجري کال کې تاريخپوه ملکريزي د بغداد نقشه داسي وړاندي کوي:

هيڅ جومات پکښي اباد پاته نه سو، نه پکښي د جمعې لمونځ کيدی نه بازار پکښې وو، ټول کانالونه يې وچ سوي وو، اوس ورته د ښار ويل کيدل هم شوني نه وو.

په ۹۱۴ هجري کال کې د ايران د پاچا اسماعيل صفوي په ولکه کې راغی، په همدې وخت کې ايرانيانو او عثمانيانو د دې ښار د ولکه کولو لپاره خپل منځي جګړې پيل کړې.

په ۹۷۸ هجري کال مراد بادشاه په بغداد کې د ماڼيو او جوماتونو د جوړولو کار بيا پيل کړ.

د اتلسمي پيړۍ په پيل کې حسن بادشاه د دې ښار حاکم وګرځيد د همده په واسطه ښار يوې نوي مرحلې ته ننوت، هغه خپل مملوکان دلته راوستل او ښار د مملوکانو په ولکه کې راغی.

د حسن پادشاه د زوی احمد پاشاه د پر تخت کښينستلو سره د بغداد ښائست بيا را ژوندی سو.

په ۱۷۴۷ عيسوي کال د احمد پاشاه د وفات سره د قسطنطنيې خلګو پر بغداد باندي ولکه وکړه خو

مملوکانو يې مقابله وکړه.

په ۱۷۴۹ عیسوي کال سلیمان پاشاه لومړنی مملوک وو چې د بغداد والي وټاکل سو.

په ۱۸۳۱ عیسوي کال عثماني دوران پای ته ورسید او بغداد د قسطنطنیې په واک کې پریووت.

په ۱۸٦۹ عیسوي کال بدهت پاشاه بغداد په اوو برخو وویشه او د بغداد دښار دیوالونه یې ړنګ کړل.

په ۱۸٦۸ عیسوي کال د هغه سیمه په درې سترو برخو (موصل، بصره او بغداد) باندي وویښل سوه.

په ۱۸۵۳ عیسوي کال د دې ښار ابادي شپیته زره کسان ګڼل سوي دي.

په ۱۸۸۴ عیسوي کال بصره او بغداد یو د بل څخه جدا کړل سول.

په ۱۹۱۸ عیسوي کال کې یې ابادي دوه لکه کسان ګڼل سوي دي.

په ۱۹۴۷ عیسوي کال کې یې ابادي څلور لکه او څلور شپیته زره ګڼل سوې ده.

په ۱۹٦۸ عیسوي کال کې یې ابادي دوه ویشت لکه اویا زره کسان ګڼل سوې ده.

اوسنی بغداد ډیر تبدیل سوی دی، د ښار زاړه عمارتونه په پخوانۍ بڼه خو نوي عمارتونه په غربي بڼه جوړ کړل سوي دي د پخوانیو سیستمونو پر ځای اوس نوي تګلاري پیل سوي دي، په ښار کې څلور پاخه پلونه هم جوړ کړل سوي دي.

(ابو مسلم خراساني: اسلم راهي)

## د قرطبې لوی مسجد

د قرطبې د لوی مسجد افتتاح د عبدالرحمن الداخل په وخت کې وسول.

دا مسجد په اموي پلازمینه کې شاوخوا ۲۰۰ کلونو په موده کې جوړ سوی دی، دا ۸۵٦ پایې لري.

(اندلس: ډاکټر راغب سرجاني)

## د قرطبې کتابتون

په قرطبه کې د ٦۰۰ څخه زیات کتابتونونه وه، د هغه ځای تر ټولو لوی کتابتون په بیلابیلو ژبو کې د څلورلکه کتابونو ټولګي درلودو ویاړ درلود.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## دادین()

د دادین پخوانی نوم دابیل وو، دا سیمه په عیسوي پیړۍ کې د مرکزي یا شمالي ارمینیا دارالحکومت وو، ډیر اوسیدونکي یې عیسویان وه چې د کمبلو، شړیو او وړیزو موادو څخه جوړو سویو توکو تجارت کاوه، دغه کمبلي او شړۍ به دې خلګو په قرمیزي چینجیانو رنګولې، که څه هم په دې سیمه کې د عیسویانو شمیر زیات وو خو سرداري یې د مسلمانانو په لاسو کې وه، د همدې مسلمانانو تر سیوري لاندې عیسویانو، مجوسیانو او یهودانو د ارام ژوند کاوه، خو د دادین سیمه ډیر ژر د زوال سره مخ سوه او ځای یې د مفلس ښار ګوتې ونیوی.

## جامعه ابو ایوب

کله چې د سلطان محمد فاتح په مشرۍ قسطنطنیه د اسلامي سلطنت مرکز وګرځید، نو سلطان د ابو ایوب انصاري رضی الله عنه قبر را پیدا کړ، چې همالته دفن وو، سلطان محمد خان د ابو ایوب انصاري رضی الله عنه د مزار تر څنګ یو جومات جوړ کړ چې په تاریخ کې د جامعه ابو ایوب په نامه مشهور سوی دی.

(سلطان محمد خان فاتح: ادریس ازاد)

## د روهتاس کلا

شیرشاه سوري چې کله د هند واک تر لاسه کړ، لاهور یې هم ونیوی.

شیرشاه چې کله خوشاب ته د فاتح په څیر داخل سو، دلته د ګهګر په نامه قوم اوسیده، چې مشري یې سارنګي ګهګر کول، هغه د شیرشاه دربار ته د راتلو څخه ډډه وکړه، دا په دې معنا وه چې هغه نه غوښتل د شیرشاه اطاعت وکړي او ځان یې خپلواک ګاڼه.

شیرشاه د دې سیمي د ښه اداري او نظم لپاره د یو کلا د جوړیدلو حکم وکړ، هغه د کلا لپاره جهلم سیند

ته څېرمه چېرته چې د کشمیر د غرونو لړۍ پیلیږي؛ ځای غوره کړ، دغه کلا د لاهور څخه شپیته میله لرې جوړه سوې.

د کشمیر د غرونو پر لاندینۍ اوږه دغه کلا په دوه نیم میله ساحه کې جوړه سوه، چې دیوالونه یې لس گزه پراخ او دوولس متره لوړوالی لري، ټول دوولس دروازې لري او دغه شانداره کلا ٦٨ برجونه لري، چې ځیني برخي یې د شیرشاه د وخت د هنر او ښکلا شهکار گڼل کیږي.

(شیر شاه سوري: محمد زبیر شفیقي)

## مدرسة العشایر

د عثماني سلطنت اخري سلطان عبدالحمید په استانبول کې د خلافت د مقر او د حکومت د مرکز په حیث مدرسة العشائر العربیة (د عربي کورنیو ښوونځی) جوړ کړ، تر څو د حلب، سوریې، بغداد، بصرې، موصل، لویدیځ طرابلس، یمن، حجاز، بنغازي، القدس او د دیر الزور د ولایتونو د عربي کورنیو کوچنیانو ته ښوونه او روزنه ورکړل سي، په دې ښوونځي کې د زده کړي موده پنځه کاله وټاکل سوه، دا کورنی ښوونځی وو چې د زده کوونکو ټول لگښت عثماني دولت ورکاوه، هر زده کوونکي ته یوه اندازه تنخوا هم ورکول کیده، له دې پرته د زده کوونکیو د سفر لگښت هم د حکومت په غاړه وو.

د استانبول د مدرسة العشائر العربیة نصاب:

د دې ښوونځي نصاب په لاندي ډول وټاکل سو:

لومړی کال: قران کریم، د ابجد تورو لیکل، دیني علومد ترکي ژبي لوستلو تمرین، پوځي تمرین.

دویم کال: قران کریم، تجوید، دیني علوم، املاء، ریاضي، د ترکي ژبي لوستنه، خوشنویسي، پوځي تمرین.

دریم کال: قران کریم، تجوید، دیني علوم، خوشنویسي، املاء، جغرافیه، ریاضي، فرانسوي ژبه، پوځي تمرین.

څلورم کال: قران کریم، تجوید، دیني علوم، عربي صرف، فارسي ژبه، لیکوالي، د ترکي ژبي گرامر، جغرافیه، ریاضي، خوشنویسي، فرانسوي ژبه، پوځي تمرین.

پنځم کال: قران کريم، تجويد، ديني علوم، عربي نحو، فارسي ژبه، عثماني تاريخ، عثماني قواعد، د ترکي ژبي لوستنه او ليکنه، د ترکي ژبي محاوره، جغرافيه، رياضي، انجينري، خوشنويسي، عمومي معلومات، د روغتيا د ساتني د اصولو زده کړه، د اداري چارو د ترسره کولو تمرين، فارسي ژبه، د فرانسوي ژبي خوشنويسي، پوځي تمرين.

له دې ځايه فارغيدونکي زده کوونکي به په شاهي ښوونځيو کې داخليدل، چې هلته له يو کال زده کړو وروسته به يې لوړ ديپلوم ترلاسه کاوه او بيرته به خپلو خپلو سيمو ته ستنيدل.

(عثماني خلافت: دوکتور علي محمد الصلابي)

## دارالعلوم الحميديه

د چين په پلازمينه پيکنگ کې يو پوهنتون دی چې چينايي مسلمانان يې د دار العلوم الحميديه په نوم يادوي، دا نوم د عثماني دولت د اخري سلطان عبدالحميد له نوم سره د تړاو له مخي ايښودل سوی دی.

د دې پوهنتون د پرانيستي مراسمو ته په زرگونو چينايي مسلمانان راغلي وه، له دې پرته پکښي د پيکنگ مفتي او نورو علماوو هم گډون کړی وو.

د پرانيستي په مراسمو کې چې کومه وينا وسوه، هغه په عربي ژبه وه، چې سلطان عبد الحميد ته پکښي د خليفة المسلمين په حيث دعا وسوه، د پيکنگ لوی مفتي دا خطبه چينايي ژبي ته وژباړله او په چينايي ژبه يې دعا وغوښته، له دې وروسته د پوهنتون په لويه دروازه د عثماني دولت بيرغ پورته سو.

(عثماني خلافت: دوکتور علي محمد الصلابي)

## نظاميه مدرسه

د يوولسمي پيړۍ په وروستيو کې سلجوقيانو په عراق کې نظاميه مدرسه جوړه کړه، دا د منځنيو پيړيو تر ټولو لوی پوهنتون وو او د زده کړو هيڅ ډول فيس يې نه اخيست.

(هير شوی اسلامي تاريخ: فراس الخطيب)

# ۴: جنگونه

## د بشریت د تاریخ تر ټولو حیرانوونکي او چټک فتوحات

د بنوامیه په دور کې مسلمانانو په نیمه پیړۍ کې تقریبا نیمه نړۍ فتحه کړه.
د مسلمانانو یوه نسل دومره فتوحات تر لاسه کړې چې هغه د روم امپراطورۍ په ۸۰۰ کلونو کې هم نه وې تر لاسه کړي، او دا د بشریت د تاریخ تر ټولو حیرانوونکي فتوحات ګڼل کیږي.
(د تاریخ تقریبا ټول کتابونه)

## د اجنادین غزا

خالد رضی الله عنه شام ته ورسیدی، بصره یې فتح کړه او د مسلمانانو له مشرانو (ابو عبیدة، شرحبیل او یزید رضی الله عنهم) سره یو ځای س، عمر ابن العاص رضی الله عنه له فلسطین څخه د اردن د سیند پر څنډه را روان وو، چې د مسلمانانو له لښکر سره یو ځای سي، رومیانو بیا دا هڅه کوله چې د عمرو رضی الله عنه سره جګړه وکړي، خو عمرو رضی الله عنه له جګړې څخه ځان ساته، ځکه هغه پوهیده چې دا جګړه کومه مثبته پایله نلري.

خالد رضی الله عنه چې کله عسکري پلان تر نظر تیر کړ، دا یې غوره وګڼله چې پر رومیانو په فلسطین کې حمله وکړي، د همدې لامله فلسطین ته روان سو، او عمرو رضی الله عنه ته یې امر وکړ چې د رومیانو له لښکرو څخه را لیري سي او د دوی له لښکر سره یو ځای سي.

په ۱۲ هجري کال د صفري په میاشت کې مسلمانان (چې شمیر یې ۳۰ زره ته رسیدی) د اجنادین سیمي ته ورسیدل، په مقابل کې یې د رومیانو ۶۰ زره مجهز فوځ راووت.

په لومړۍ ورځ چې د مسلمانانو او کفارو تر منځ جګړه وسول، نو د رومیانو عمومي قومندان جنرال وردان په ډیر سخته توګه د مسلمانانو له حملو څخه ځان وویست، کله چې خپل لښکر ته ورسید، ویې لیدل چې لس زره جنګیالي او لس مهم رئیسان یې وژل سوي دي، نو پوه سو چې د مسلمانانو سره جنګ کول څه اسانه کار نه دی، هغه چې د کوم غرور او کبر سره د جنګ میدان ته راغلی وو، اوس یې هغه غرور خاوري سوی وو.

جنرال وردان د جنګ پر ځای دا غوره وبلل چې د مسلمانانو سره صلح وکړي ځکه یې نو خپل قومندانان راوغوښتل او د صلح وړاندیز یې ورته وکړ، قومندانان هم چې له جنګ څخه ستړي سوي وه، په صلح خوشحاله سول خو یو تن قومندان وردان ته وویل: د هرقل د اجازې پرته ته روغه نسې کولای، دا یې حل نه دی زه یو مشوره درکوم ته د مسلمانانو مشر راوغواړه، هغه ته د خبرو وړاندیز وکړه، هغه چې راسي ته نفر په کمین کې ورته کښینوه، دوی به ناڅاپه حمله وکړي او هغه به ژوندی ونیسي، د هغه په نیولو به په مسلمانانو کې ګډوډي راسي.

وردان یو عرب نصراني د داؤد په نامه مسلمانانو ته واستوی تر څو مسلمانانو ته سبا د جنګ بندۍ اعلان وکړي او د صلحي د خبرو بلنه ورکړي.

داؤد چې کله مسلمانانو ته راغلی نو د مسلمانانو رعب پري پریووت، حضرت خالد رضی الله عنه ته یې؛ په دې شرط چې ده او دده اولادو ته به امان ورکوي، اصلي خبره وکړه او د هغوی فریب یې رسوا کړ.

خالد رضی الله عنه؛ ضرار بن الازور، رافع بن عمر الطائي، معاذ بن جبل، ضرار بن الازور، سعید بن زید، قیس بن هبیره، میسره بن مسروق، عدي بن حاتم رضی الله عنهم اجمعین او څو نور مجاهدین د شپې هغه غونډۍ ته ولیږل، چیري چې وردان خپل کسان له مخکې څخه ځای پر ځای کړي وه.

ضرار رضی الله عنه د خپلو ملګرو سره هلته ولاړ، هغوی ټول د ورځې د جنګ څخه ستړي سوي وه او په خواړه خوب بیده وه، مجاهدینو ټول له تیغه تیر کړل، د هغوی وسلې یې واخیستې، د هغوی زغري یې واغوستې او همدلته په تهجد مشغول سول.

سبا ورځ حضرت خالد رضی الله عنه او وردان سره کښیناستل او د صلحي په اړه یې خبري شروع کړې، د څه خبرو وروسته وردان توره له تیکي وویستل، او چیغه یې کړه: ځانونه راورسوئ! د عربو مشر په ګوتو راغلی دی.

له هغه ځایه مجاهدین راووتل، لومړی خو وردان خوشحاله سو فکر یې کاوه چې خپل ملګري یې دي، خو کله چې هغوی را نیزدې سول نو وردان حضرت ضرار رضی الله عنه وپیژندی، ضرار رضی الله عنه خپله توره ورته وښودل، وردان پوه سو چې اوس یې نو مرګ یقیني دی، چیغي یې کړې: خالده! ستا د رب جل جلاله په روی قسم درکوم، په خپله مي ووژنه، دغه سړي ته مي په لاس مه ورکوه.

خالد رضی الله عنه وفرمایل: دغه شخص ستا د وژلو لائقت لري، ضرار رضی الله عنه هم د هغه سر پرې کړ.

خالد رضی الله عنه همدا موقع غنیمت وګڼله او پر دښمن یې حمله وکړه، دښمنانو چې خپل مشر وژل سوی ولید، وارخطا سول او تیښته یې شروع کړل، مسلمانانو چې تر څه ځایه هغوی تعقیب کړل، له هغې خوا ورته د آسونو ګردونه ښکاره شول مسلمانانو فکر وکړ چې هرقل به خپلو عسکرو ته کومک رالیږلی وي، غازیانو نور د هغوی تعقیب پریښود او ځاي په ځاي تم شول، تر څو د راتلونکي فوځ لپاره ځانونه محکم کړي، هغوي په دې طمع وه چې تازه دمه عسکرو سره به یې مقابله وي، خو هغه ګردونه، شور او ځوګ کرار سو، څه وخت وروسته بیا د آسونو تګ مځکه ولړزوله، مسلمانانو ته په آسونو سپاره خلک کرارا ـ کرار را نیزدې کیدل تر دې چې سپین محمدي بیرغونه یې راښکاره سول.

کله چې هغوي را ورسیدل دواړو طرفونو د تکبیر نعرې بدرګه کړې، مسلمانان پوه سول چې دا هغه کومکي غازیان دي چې أبوبکر الصدیق رضي الله عنه د دوي مرستې ته رالیږلي وه، هغوي وویل مونږ ته د هرقل عسکر مخ ته راغلل مونږ پوه سوو چې له مجاهدینو راتښتیدلي دي، مونږ ورباندي برید وکړ.

په دې جنګ کې د کفارو ۳۰ زره کسان ووژل سول، زیات شمیر آسونه، زغري، د سرو او سپینو زرو تاجونه، صلیبونه، خوراکي توکي، بیحسابه نیزې، توري، لیندې اوغښي په غنیمت کې ونیول سول.[1]

اجنادين په شام کې د مسلمانانو او روميانو تر ټولو لويه او لومړۍ جګړه ده.

(فتوح الشام: ابي عبدالله محمد بن عمر بن الواقد الواقدي)

## د يرموک جګړه

د اجنادين د فتحې وروسته د مسلمانانو لښکر د امير المؤمنين ابوبکر صديق رضی الله عنه د امر د پر ځای کولو لپاره په يرموک کې سره را ټول سو، د روميانو لښکر د تيدور په مشرۍ په واقوصه (چې يرموک ته نيژدې دی) نومې ځای کې سره راټول سول.

د مسلمانانو شمير ۴۰ زره کسان وه او ځينو تاريخ پوهانو بيا ۴۵ زره کسان ښوولي دي، روميانو د لښکر ۲۴۰ زره کسان اندازه سوي دي.

د روميانو د لښکر په لومړۍ برخه کې د جرجه په مشرۍ هغه کسان وه چې جګړه پيلوي او وروسته د لښکر اړخ ته اوړي.

د جګړې تر مخه د مسلمانانو او روميانو تر منځ د صلحې خبرې اترې وسوې خو کومه نتيجه يې ور نکړه.

اول وار د روميانو له طرفه جرجه (چې يو ستر قومندان بلل کيده) راووتی او د خالد رضی الله عنه څخه يې د راوتلو غوښتنه وکړل، خالد رضی الله عنه راووتی او جرجه ته نيژدې ورغلی، د خالد رضی الله عنه او جرجه تر منځ خبرې اترې وسوې، جرجه د اسلام د حقانيت په اړه پوښتنې کولې او خالد رضی الله عنه به جواب ورکاوه، آن تر دې چې د جرجه زړه د اسلام لورې ته ميل پيدا کړ، او د خالد رضی الله عنه سره د هغه خيمې ته راغی، غسل يې وکړ او اسلام يې قبول کړ.

وروسته جنګ شروع سو، لومړی د روميانو د لښکر ميسره (چپ اړخ) د مسلمانانو د لښکر پر ميمنه (راسته اړخ) دومره سخته حمله وکړه، چې تر قلب (د لښکر مرکز چې د ميمنه او ميسره تر منځ وي) پوري يې ورسول، مسلمانانو يو ځل بيا مقاومت وکړ خو روميانو بيا زوروره حمله وکړه او هغوی يې بيا قلب ته

ورسول، د ښا لخوا مسلمانو میرمنو پر هغوی ډبري واورولې او د خیمو لرګي یې پسي را واخیستل او مجاهدین یې د په ښا کیدو څخه را ګرځول او جګړې ته یې هڅول.
عکرمه بن ابي جهل رضی الله عنه اواز وکړ: څوک سته چې زما سره پر مرګ بیعت وکړي، حارث بن هشام، ضرار بن الازور رضی الله عنهما او ۴۰۰ نورو مخورو مسلمانانو پر مرګ بیعت وکړ، دوی ټول د خالد رضی الله عنه د خیمې په وړاندي تر هغو وجنګیدل چې ټپیان سول، ځیني یې شهیدان سول.

د رومیانو د لښکر میمنه د مسلمانانو د لښکر پر میسره حمله وکړه، آن تر قلب پوري یې د هغوی صفونه څیري کړل، مسلمانانو میرمنو به مجاهدینو ته پیغورونه ورکول، مجاهدینو چې به د خپلو ښځو پیغورونه واوریدل، بیا به جګړې ته وګرځیدل.

رومیانو دا ځل د عمرو رضی الله عنه پر لښکر حمله وکړه او د لښکر اصلي مرکز ته داخل سول، مسلمانان یې په ښا وتمبول، د مسلمانانو میرمنو د شعار ورکولو په خاطر د مسلمانو مجاهدینو جذبه بیا را ژوندۍ سول، او بیا یې یرغل وکړ، هغه ځایونه یې بیرته لاس ته راوړل، چې مخکې یې له لاسه ورکړي وه.

خالد رضی الله عنه د رومیانو د لښکر پر چپ لوري (چې د مسلمانانو پر راسته اړخ یې حمله کړې وه) داسي زوروره حمله وروړه، چې د رومیانو ٦ زره کسان پکښې ووژل سول، وروسته مسلمانانو داسي حملې وکړې چې رومیانو نور ځان نسواى ورته ټینګولاى، او ماته یې وخوړه، مسلمانان ورپسې سول، د مسلمانانو میمنه د رومیانو په وړاندي د تیښتي لار وتړل، او هغوی یې د یرموک د کندي او زرقاء د نهر تر منځ ایسار کړل، مسلمانان په دې وتوانیدل چې د رومیانو پلي او سپاره عسکر سره جلا کړي، خالد رضی الله عنه عمرو رضی الله عنه ته وویل: سپرو ته د تیښتي لار ورکړئ، چې په دې سره د رومیانو پیاده عسکر بې دفاع سول، او خندقونو ته ورسیدل، مسلمانان په دوی پسي په تیاره شپه کې راغلل او ټول یې د یرموک کندي ته واچول.

مسلمانانو د دوی څخه په دې جګړه کې ۱۲۰ زره کسان ووژل او د مسلمانانو ۳ زره کسان شهیدان سول، چې په دې کې مشهور کسان؛ ضرار ابن الازور، سعید بن زید، عکرمه بن ابي جهل، عمرو بن عکرمه، سلمه بن هشام، عمرو بن سعید، ابان بن سعید... رضی الله عنهم وه.

خالد رضی الله عنه پاته شپه د تذارق (چې د هرقل ورور وو) په خیمه کې تیره کړه، مجاهدینو ټوله شپه ګزمه کول، کوم رومیان چې به په لاس ورتلل، هغوی به یې وژل، چې په دې کسانو کې تذارق هم وو.

(فتوح الشام: ابي عبدالله محمد بن عمر بن الواقد الواقدي)

## د قسطنطنیه لومړنی محاصره

په ۴۷ یا ۴۸ هجري کې حضرت معاویه رضی الله عنه د غازیانو لښکر د بیزنطیانو و خاوري ته ولیږلې، تر څو و قسطنطنیې (اوسنی استانبول) ته لاره هواره سي، د مالک بن هبیره السکوني په نوم قوماندان چې د دې لښکر مشري یې کوله؛ ټول ژمی د دښمنانو پر مځکه تیر کړ، خلاصه دا چې په ۴۹ هجري کې د لومړي ځل لپاره د قسطنطنیې ښار د غازیانو لخوا محاصره سو، د مسلمانانو لښکر خلیقدونیة (چې د قسطنطنیې سره نیزدې وو) ته ورسید، دا چې مسلمانانو ژمی تیر کړی وو او د جدري په نوم مریضي هم پکښې پیدا سوې وه نو فضالة بن عبداللیثي (چې دا هم د لښکر قوماندان وو) حضرت معاویه رضی الله عنه ته د کومک پیغام ولیږه.

حضرت معاویة رضی الله عنه د خپل زوی یزید په مشري کومکي لښکر ولیږه چې په هغه کې جلیل القدر صحابه کرام هم وه لکه عبدالله بن عمر، عبدالله بن زبیر، عبدالله بن عمرو بن العاص، ابو ایوب انصاري... رضی الله عنهم اجمعین.

دا لښکر په خلیقدونیه کې د مخکني لښکر سره یو ځای سو، او د قسطنطنیې په لور روان سوه، شپږ میاشتي یې قسطنطنیه محاصره کړه، مګر دا چې ژمی ډیر سخت وو، او بارانونه هم په داسي حال کې

مسلسل اوريدل چي مسلمانانو هيڅ سر پناه نه درلوده، نو مسلمانان ونه توانيدل چي دا فتح کامله کړي، او بيرته د شام په طرف وکوچيدل.

(اموي خلافت: مولوي عبدالرحمن محمود)

## ايبيريا Iberia (پخوانی اندلس)

دا حقيقت دی چې امويانو نيزدې ټوله ايبيريا (هسپانيه پخوانی اندلس او پرتګال) يواځي په څلورو کلونو کې د يو څو زرو عسکرو په مرسته فتحه کړه، د دې څخه داسي څرګنديږي چې دوی د ځايي نفوس څخه ملاتړ تر لاسه کړی وو.

(هير شوی اسلامي تاريخ: فراس الخطيب)

## د سلطان نور الدين زنګي له لوري د دمشق فتحه

د يروشلم، فرانسې او جرمني پاچاهانو په ۵۴۳ هجري کال د ربيع الثاني په پيل کې پر دمشق حمله وکړه.

د دمشق والي مجيرالدين کمزوری انسان وو، که چيري د هغه سره د هغه مخلص او ځيرک وزير معين الدين نه وای کيدای سي په لومړی ورځ ښار د نصرانيانو لاس ته ورغلی وای.

تر څو ورځو پوري خونړی جګړې وسوې، او په دې جګړو کې د دمشق شيخ عبدالرحمن محلول او فقيه امام يوسف فندلاوي پرته ډير علماء کرام په شهادت ورسيدل.

صليبي لښکر ډير زيات وو، ځکه نو معين الدين له سلطان نور الدين زنګي او د موصل له والي سيف الدين غازي (چې د نورالدين زنګي ورور وو) څخه مرسته وغوښتل.

سلطان د هغه مرستي ته خپل یو تکړه سالار سنان بن عدي (چا چې د قونیې په لویدیځو او جنوبي غرونو کې د جرمني او فرانسې لښکرو ته سخته ماته ورکړه) د لس زره لښکر سره واستاوه.

د شپې سنان دوه ځله شواخون (د شپې چریکي حمله) وکړه او زرګونه صلیبیان یې ووژل.

سبا ورځ صلیبي لښکر د یروشلم د حکمران دریم بالډون تر مشرۍ لاندي پر ښار حمله وکړه خو د مسلمانانو له سخت مقاومت سره مخ سول، د ښا، ښي او چپ اړخ څخه سنان پر هغوی حمله وکړه.

بله ورځ صلیبي لښکرو ته دا خبر راورسید چې نور الدین زنګي له یوه لوی لښکر سره له حلب څخه خوځیدلی دی، او سیف الدین غازی هم د دمشق په لور را روان دی.

د دې حالاتو په نظر کې نیولو سره لوئیس، کانرډ او بالډون فیصله وکړه چې په شپه کې پر ښار زوروره حمله کوي او په همدې شپه کې به ښار نیسي، کله چې یې د شپې پر ښار حمله وکړه خو هغوی د سخت مقاومت اظهار کاوه، د ښا له لوري د سنان چریکي حملو هم صلیبیان وارخطا کړي وه، ټوله شپه جګړه وسوه خو کومه پریکړه ونه سوه.

صلیبیانو دا فیصله وکړه چې د نور الدین زنګي له راتګ مخکي باید د ښار محاصره پورته کړي، ځکه یې نو د د مشق محاصره پریښودل او یروشلم ته وخوځیدل.

۵۴۴ هجري کال سلطان نور الدینِ زنګي له مجیر الدین څخه د صلیبیانو په خلاف مرسته وغوښتل، مجیر الدین د دې پر ځای چې د سلطان له ده سره پخوانۍ ښیګڼې په نظر کې ونیسي، هغه د سلطان اړتیا له نظره وغورځول او سخته رویه یې غوره کړه، خو کله چې سلطان د خپل طاقت ښکارونه وکړه نو مجیرالدین د سلطان څخه بخښنه وغوښتل او صلح یې وکړه چې په راتلونکي کې به د اړتیا مطابق سلطان ته مرسته لیږي.

په کال ۵۴۶ هجري کې مجیر الدین له خپلي وعدې وګرځید او له عیسوي حکمرانانو سره یې جوړ جاړی پیل کړ، یو دوه ځلي چې کله سلطان هغه ته د پوځ د برخه اخیستلو لپاره په جهاد کې وړاندیز وکړ نو ده په څه بهانه ځان ټال کاوه، سلطان د هغه پر دې کار شک کاوه خو د هغه پر خلاف یې څه ونکړل، خو

ورځي وروسته سلطان ته د هغه جاسوسانو خبر ورکړ چې مجير الدين له صليبيانو سره جوړ جاړی کړی دی.

سلطان په ۵۴٦ هجري د محرم په لومړۍ لسيزه کې د دمشق په لور وخوځيد.

مجير الدين د سلطان مقابلې ته د ښار څخه راووتی، خو سلطان هغه ته په ډيره بده توګه ماته ورکړه او هغه ځان په ښار کې محاصره کړ.

سلطان نور الدين زنګي څو ځله مجيرالدين ته دا پيغام وليږه چې نه غواړم د مسلمانانو پر خلاف وجنګيزم، که چيري ته اوس هم له ماسره په جهاد في سبيل الله کې د ګډون هوډ وکړې نو زما او ستا تر منځ هيڅ جګړه نسته خو غدار مجير الدين د هغه پيغام ته هيڅ ارځښت ورنکړ.

په دې دوران کې مجير الدين په پټه له صليبيانو مرسته وغوښتل، کله چې صليبيان د دمشق په لور وخوځيدلنو سلطان له مجبورۍ څخه د ښار محاصره لري کړه کله چې صليبانو ته د دې خبر وسو نو هغوی د راس الما په لوري وخوځيدل د دمشق غدار والي هم له هغوی سره په راس الما کې يوځای سو د دې لپاره چې د سلطان نظر له دمشق څخه وګرځوي، دې متحده لښکر د حسن بصرئ په ښار حمله وکړه سلطان هم په هغه لوري وخوځيد خو د سلطان له رسيدو مخکې د حسن بصرئ حاکم دې متحده لښکر ته ماته ورکړه مجير الدين بيرته دمشق ته ستون سو سلطان هم دمشق بيا محاصره کړ

د سلطان د سختو حملو په وجه مجيرالدين همت بايلود او ۵۴٦ هجري په ربيع الاول کې يې په دې تړون لاسليک وکړ چې په راتلونکي کې به له سلطان سره د عيسويانو په خلاف مرسته کوي.

په کال ۵۴۹ هجري کې مجير الدين بيا تړون مات کړ او له صليبيانو سره يې جوړ جاړی پيل کړ، هغه د يروشلم له صليبي حکومت څخه د سلطان په خلاف دفاعي تړون وکړ او د هغه په عوض کې يې عيسايي حکومت ته خراج ومانه.د دمشق اکثره علماوو او مشرانو دا کار بد وګاڼه په دې خاطر په دمشق کې حالت ډير خراب سول.

د یروشلم د عیسایي حکومت اراده وه چې هغوی لومړی پر دمشق قبضه وکړي وروسته د نور الدین زنګي پرخلاف ستر عملیات پیل کړي ځکه سلطان تل هغوی ته داسي ګوزار ورکړی وو چې هغوی یې د اسلام پر خلاف کوم عمل ته نه پرېښودل.

سلطان د اسدالدین شیرکوه په مشرۍ کې یو لښکر د دمشق لوري ته ولیږه تر څو هغوی وپوهوي چې له اسلام ضد کړنو څخه لاس واخلي، خو هغوی شیرکوه ته سخت ځواب ورکړ، اسدالدین د دې کار خبر سلطان ته ولیږه.

سلطان هم د ځپل لښکر سره د حلب څخه د دمشق په لور وکوچید، د ۵۴۹ هجري کال د صفر په لسمه مجیرالدین د سلطان د مقابلې لپاره له ښار څخه راووت، خو سلطان هغه ته ماته ورکړه او هغه بیرته په ښا سو او ځان یې په ښار کې محاصره کړ.

په ۱۲ صفر سلطان پر ښار باندي زوروره حمله وکړه او د دمشق ښار ته ننوت، د دمشق پوځ له مخکي د مجیر الدین څخه خفه سوی وو، ځکه یې وسله وغورځول سلطان هغوی ته عامه بخښنه وکړه.

مجیرالدین په ښار کې پټ سو، خو وروسته یې ښار د ځان لپاره خوندي ونه ګاڼه او د سلطان په حضور کې حاضر سو او بخښنه یې وغوښته سلطان هم بخښنه ورته وکړه او د حمص کلا یې هغه ته په واک کې ورکړه.

۵۴۹ هجري ۱۲ صفر د دمشق ښار ونیو.

(د حرم سپاهي: اسلم راهي)

## د ملا ذکرت جګړه

په ۴۶۲ هجري کال رومي قیصر ارمانوس د خلاط پر ایالت د دوه لکه پوځ سره حمله وکړه، سلطان الپ ارسلان د ۱۵ زره کسانو سره د هغوی مقابلې ته ور ورسید، جنګ د نننۍ ترکیې د ملاذکرت په سیمه کې

وسو، سلطان داسي مقابله وکړه چې د کفارو د لښکرو د ډېروالي سره سره يې يوه عبرتناکه ماته ورکړه، په دې جگړه کې د نړۍ په تاريخ کې په اول ځل د روم امپراطور د اسير په توگه ونيول سو، سلطان د ارمانوس څخه د اطاعت وعده واخيسته او خوښي يې کړ، کله چې امپراطور بيرته قسطنطنيه ته ستون سو نو رومیانو کودتا پر وکړه بندي يې کړ او په پای کې يې وواژه.

سلجوقيانو د ملاذکرت په جگړې سره عيسويان د تل لپاره له کوچنۍ اسيا (اناتوليا) څخه وشړل.

(عثماني خلافت: دوکتور محمد علي الصلابي، هير شوی اسلامي تاريخ: فراس الخطيب)

## د انگورې جنگ

د گوډ تيمور دسلطنت نه وروسته د بايزيد سلطنت په نړۍ کې تر ټولو ځواکمن سلطنت و . بايزيد دخپلو پخوانيو فتوحاتو په اساس دومره سرشاره و چې د گوډ تيمور د فوځونو سهي اندازه يی و نه شوه لگولې . او داسې يو فاتح يی ځانته را پاروو چې ددهشت اووحشت څخه يی ستر ستر پادشاهان لړزيدل . په لمړي ځل د داوړو تر منځ ډير تريخ ليک ليږد پيل شو اودهمدې په پايلو کې ددواړو تر منځه سخت جنگونه پيل شول.

تر ټولو وروستي جنگ د انگورې د جنگ په نامه مشهور دی؛ په دې جنگ کې بايزيد ماته وخوړه او ژوندی د گوډ تيمور په لاسو کې پريووت.

تيمور بايزيد د اوسپني په يوې پنجرې کې بند کړ او هر چيري چې به تلی هغه پنجره به يې له ځانه سره وړله.

بايزيد نيزدې اته مياشتي وروسته په هماغه اوسپنيزه پنجره کې ساه ورکړه.

(بايزيد يلدرم: اسلم راهي)

## ورځه قسطنطيه فتح سوه!

کله چې د قسطنطينې کلابندي اوږده سوه نو سلطان محمد فاتح خپل پير ته «چې هغه هم په دې محاصره کې ورسره وو» قاصد واستوی تر څو د ده لپاره دعا وکړي کله چې قاصد د پير خيمې ته

ورسیدی نو د خیمې پهره دار هغه دننه نه پرېښودی خو قاصد په زوره دننه سو په خیمه کې پیر پر سجده پروت وو کله چې یې د قاصد راغلی نو پیر د سجدې څخه سر راپورته کړ او ورته ویې ویل: ورځه قسطنطنیه فتح سوه.

قاصد چې دباندي راووت گوري چې د قسطنطیې پر دیوالونو د اسلام بیرغونه رپیږي.

(سلطان محمد خان فاتح: ادریس ازاد)

## د پاني پت جگړې

د پاني پت په میدان کې درې لویې جگړې سوي دي:

۱: د پاني پت لومړۍ جگړه په کال (۱۵۲٦م) د بابر ځواکونو او لودهیانو تر منځ وسوه.

۲: د پاني پت دوهمه جگړه په کال (۱۵۵٦م) د مغول پاچا جلال الدین اکبر او د شمالي هند هندو امپراطور تر منځ وسوه.

۳: د پاني پت دریمه جگړه په کال (۱۷٦۱م) کې د درانیانو او مرهټیانو تر منځ وسوه.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## د میوند تاریخي جگړه

امیر محمد یعقوب خان د امیر شیرعلي خان زوی وو، هغه چې کله واکمن سو د خپلي واکمنۍ په لومړۍ ورځ یې ځان او افغانستان د انگریزانو رحم ته پرېښودل، انگریزانو هم د دې حالت څخه گټه پورته کړه او د گندمک تړون یې په ومنی او یو شمیر نوري د افغانستان لپاره مضري کړنې په ومنلې، تر دې چې ټولي چاري انگریزانو په لاس کې واخیستې.

په دې وخت کې انگرېزانو پر افغانستان فوځي تيری وکړ او د هيواد ډېري سيمي يې ونيولې، کابل يې تر خپلي ولکې لاندي راووست، بالاحصار چې د امير شيرعلي خان له وخت څخه په وسلو ډک وو، امير محمد يعقوب خان د ټولو وسلو سره انگرېزانو ته په اختيار کې ورکړ.

د ۱۸۷۹ م د اکتوبر په ۱۲ مه انگرېزانو بالاحصار ړنگ کړ او په همدې ورځ يې د افغانستان له پاچهۍ څخه د امير محمد يعقوب خان استعفاء تر لاسه کړه.

اوس نو انگرېزانو امير محمد يعقوب خان ته نوره اړتيا نه درلوده ځکه چې له هغه څخه يې په خپله خوښه کار اخيستی وو، نو يې يعقوب خان بندي کړ او انگرېزي هندوستان ته يې واستاوه تر څو چې همالته مړ سو.

د انگرېزانو تيری چې افغانانو وليدی، نور يې زغم پای ته ورسيد، کله چې به يې يو ځای انگرېزان وليدل نو هغوی يې نسوای زغملای.

په لومړي ځل د انگرېزانو د تمرين پر مهال پنځه کسانو طالبانو پر انگرېزانو بريد وکړ.

په همدې ډول په ټول هيواد کې د انگرېزانو په وړاندي پاڅون پيل سو، هر ځای به پر انگرېزانو بريدونه کيدل.

سردار محمد ايوب خان د امير شير علي خان زوی چې د هرات والي وو او يو باناموس شهزاده وو، د وطن او ولس د خلاصون په عزم د هرات څخه د ۱۱۰۰ پياده، ۸۰۰ نظامي سپرو او ۲۳ توپونو سره د کندهار په لور رهي سو، چې په لاره کې گڼ شمير د خپلي خوښي غازيان هم ورسره يو ځای سول او د هغه ملا يې ور وتړل، سردار ايوب خان تر هلمند را پوري ووت او د ميوند ساحې ته راورسيدی.

انگرېز جنرال ميجر بروز د خپل لښکر سره يو ځای د ايوب خان مقابلې ته راووت، په ۱۲۵۹ هـ کال د اسد په ۴مه جنگ شروع سو.

که څه هم د ګرمۍ د شدت او د دښمن د مرمۍ اورولو پښتانه تر فشار لاندي راوستي وه، په داسي حال کې چې د جنګ د میدان د اوبو څاهان هم د انګریزي لښکر په لاس کې وه، خو بیا هم پښتانه ورته تږینګ سول او په خورا میړانه وجنګیدل، د دې پښتنو د غیرت په جګیدلو کې د یوې پیغلي (ملالۍ) لوی لاس وو، چې د خپلو ټپو په وجه به یې پښتانه په جوش راوستل، د دې پیغلي د فداکارۍ او قربانۍ په برکت پښتنو و انګریزي لښکر ته داسي ماته ورکړه چې دوی بیا د بڼاته کتلو جرئت هم ونه کړ.

دا جنګ د دې پیړۍ داسي وروستی جنګ وو، چې شرقي ملت د یوه داسي غربي دولت پر لښکر بری وموند، چې د دنیا څلورمه برخه یې نیولې وه او د ځمکي پر مځ تر ټولو ښه وسلې ورسره وې، دې مجاهد اولس د هغوی دا عقیده ماته کړه چې شرقي لښکر په دې پیړۍ کې د غرب پر مسلح لښکر بری نسي موندلای.

(د ازادۍ لیونی: ګل رحمان رحماني)

## د تاریخ تر ټولو لنډ جنګ

د ۱۸۹۶م د اپریل پر ۲۷مه انګلیسیانو د تاریخ په تر ټولو لنډ جنګ کې (چې ۴۰ دقیقې یې دوام وکړ) زنجبار ته ماته ورکړه، د دې جنګ لامل؛ پر زنجباري تخت د یو سلطان ناسته وه، چې غوښتل یې زنجبار د برتانیا د نفوذ د حوزې څخه وباسي.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## د افیونو جګړې

د افیونو جګړې د نولسمي میلادي پیړۍ په منځنیو لسیزو کې سوي، چې یو لوري ته چین او بل لوري ته انګلستان، فرانسه، امریکا او روسیه وه، په دې جګړو کې لسګونه زره چینایان مړه او ټپیان سوه او جګړه

د چین په ماته پای ته ورسیده.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: ادریس ازاد)

## لومړی نړیوال جنګ

لومړی نړیوال جنګ چې په ۱۹۱۴ میلادي کال پیل او په ۱۹۱۸ میلادي کال پای ته ورسید، تلفات یې په لاندي ډول دي:

د روسیې اوولس لکه، د جرمني شپاړلس لکه، د فرانسې دیارلس لکه او اویا زره، د ایټالیا څلور لکه او شپیته زره، د استرالیا اته لکه، د برتانیې اووه لکه او شپږ زره، د ترکیې دوه نیم لکه، د بلجیم یو لک او دوه زره، د رومانیا یو لک او د امریکا پنځوس زره عسکر وژل سوي.

د عامو وګړو د مړو شمیر دیارلس میلیونه، ورک سوي عسکر درې میلیونه، ټپیان شل میلیونه، بې کوره سوي خلګ لس میلیونه، بندیان سوي درې میلیونه، یتیمان سوي نهه میلیونه او کونډې سوي پنځه میلیونه.

مادي زیان زرګونه میلیارده ډالر.

(د اسلام تاریخ/ لومړی ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي)

## دوهم نړیوال جنګ

دوهم نړیوال جنګ چې په ۱۹۳۹ میلادي کال پیل او په ۱۹۴۵ میلادي کال پای ته ورسید، تلفات یې په لاندي ډول دي:

د روسیې اوه لکه او پنځوس زره، د امریکا د متحده ایالاتو درې لکه، د انګلستان پنځه نیم لکه، د فرانسې دوه لکه، د جرمني اته ویشت لکه او پنځوس زره، د ایټالیا درې لکه، د چین دوه ویشت لکه او د جاپان پنځلس لکه عسکر وژل سوي.

د عامو وګړو د مړو شمیر اتلس میلیونه.

# ۵: لومړني

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک ژوند سوانح

اروا بن زبیر په ۹۳ هجري کال وفات سو؛ هغه د لومړي ځل لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک ژوند سوانح د کتاب په بڼه ترتیب کړل.
عروه بن منبع په ۱۱۴ هجري کال وفات سو؛ هغه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک ژوند په اړه یو کتاب ولیکه.

(ابو مسلم خراساني: اسلم راهي)

## د وریښمو کاغذ

په ۸۸ هجري کال یوسف بن عمران په مکه معظمه کې د وریښمو د تار څخه کاغذ جوړ کړ چې وروسته بیا د دمشقي کاغذ په نامه یادیده.

(ابو مسلم خراساني: اسلم راهي)

## د کښتیو پل

په ۹۳ هجري کال محمد بن قاسم د سندهـ د سیند څخه تیر سو او د دې کار لپاره یې په لومړي ځل د کښتیو یو حیرانوونکی پل جوړ کړ.

(ابو مسلم خراساني: اسلم راهي)

## د عجمو تاریخ

په ۱۱۳ هجري کال کې خلیفه هشام بن عبدالملک د عجمو د تاریخ یو ډیر ستر کتاب په فارسي او عربي باندي وژباړه.

(ابو مسلم خراساني: اسلم راهي)

## مفتح نجوم

په ۱۲۵ هجري کال کې د هیئت د علم کتاب مفتح نجوم (ستوري پیژندونکې) تر نامه لاندي په عربي وژباړل سو.

(ابو مسلم خراسانی: اسلم راهي)

## په ترکانو کې تر ټولو لومړی مسلمانه قبیله

په ترک قبائلو کې سلجوقیان غالبا لومړنی قبیله وه چې اسلام یې قبول کړی دی.

(د اسلام تاریخ/ دریم ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي)

## ۱۳: په اسلام کې لومړنی فلسفي

په اسلام کې تر ټولو لومړی فلسفي البیروني دی، د کیمیا د علم او پوهي استاد هم هماغه ګڼل کیدی.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## جامعة القرویین

د نړۍ تر ټولو پخوانی پوهنتون جامعة القرویین د یوې ښځي (فاطمة الفهرية) لخوا په ۸۵۹ م کې د مغرب د فاس په ښار کې تاسیس سوی دی.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## د طبابت جواز

په لسمه پیړۍ کې بغداد د طبابت د جواز اخیستلو لپاره د یوې داسي ازموینې بنسټ کیښود، چې له مخي یې هیڅ طبیب پرته له دغه جواز څخه د طبیب په توګه خپله دنده نه سوه اجراء کولای.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## عربه لرونکې ګاډی

د ارغون خان ولد قراخان ولد مغول خان په زمانه کې؛ چې هغه په خپلې قبیلې کې سردار ګڼل کیده، د همدې قبیلې یو سړي د عربو لرونکې ګاډی جوړه کړه چې د بار وړلو لپاره ډیره ګټوره ثابته سوه.

(د اسلام تاریخ/ دریم ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي)

## کاغذي پیسې

کله چې کیخاتو خان (د هغه هلاکو خان لمسی چې بغداد یې لوټي لوټي کړ) پر تخت کښېناست، کاغذې پیسې (نوټ) یې ایجاد کړ، چې مغلو د یوت په نامه سره یاداوه، څرنګه چې کیخاتو خان په د خپلو نیکونو پر عقیدو نه وو او اسلام یې منلی وو، ځکه نو د نوټ پر دواړو لوریو کلمه طیبه لیکل سوې وه، تر کلمې لاندي د پاچا نوم او د نوټ قیمت لیکل سوی وو.

خو دا نوټ ځکه ناکام سو چې پر سوداګرو یې بد اغیز پریووت، او هغوی یې مخالفت وکړ، نو کیخاتو خان مجبور سو بیرته یې د نوټونو د رواج مخه ونیول.

(د اسلام تاریخ/ دریم ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي)

## قهوه(Coffee)

قهوه په ۱۵ پیړۍ کې لومړی د یمني مسلمانانو لخوا معرفي کړای سول، کله چې عثماني دولت وده وکړه او عربي ټاپو وزمه یې په خپل قلمرو کې داخل کړل، قهوه استانبول ته خپره سوه او له هغه ځایه بیا نوري اروپا ته.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

## الجزاري

په دوولسمه پیړۍ کې یو مسلمان مخترع الجزاري ګڼ شمیر اتومات ماشینونه ډیزاین او جوړ کړل، چې څو په کې د لاس مینځلو اتومات سیستمونه، ساعتونه او ان د موسیقۍ روبوټونه چې د اوبو په قوت سره چلیدل شامل وو.

(هیر شوی اسلامي تاریخ: فراس الخطیب)

# ٦: ډلي

## ترکان

د ادم ثاني (نوح علیه السلام) درې زامن وه: حام، سام او یافث.

د یافث اولاده په ختیځو هیوادونو (چین، مغلستان او داسي نور....) کې اباد سول، د یافث په اولادو کې د ترک په نامه یو سړی وو، د هغه اولاده په ترکستان کې خپره سوه، او هغو ټولو ته ترک وویل سول.

د ترک اولاده چې کله ښه خپاره سول نو د امن او امان د قائم ساتلو په موخه یې یو سړی د خپل سردار په صفت وټاکه، ورو ورو په هغوی کې زیاتي قبیلې پیدا سوې، هري قبیلې د ځان لپاره یو سردار درلود، او دغه ټول سرداران به بیا د یوه تر ټولو لوی سردار تر لاس لاندي وه، په دې خاطر به د ترک بن یافث د اولادې هري قبیلې ته د ترک لفظ ویل کیده.

(د اسلام تاریخ/ دریم ټوک: مولانا اکبر شاه نجیب ابادي)

## أزارقه خوارج

ازارقة د نافع بن الازرق اتباع وه، دا ډله په خوارجو کې تر ټولو منحرفه، قاتله او بې رحمه ډله وه، د دې فرقې مؤسس هغه څوک وو چې د ډیر افراطیت په خاطر یې د خوارجو په منځ کې هم اختلاف پیدا کړ، له ټولو هغو کسانو څخه یې برائت اعلان کړ چې د ده سره به جنګ ته نه وتل، همدا ډول یې ټول هغه کسان چې ده ته یې هجرت نه وو کړی کافران بلل، د خپلو مخالینو مال او وینه یې ځان ته حلاله بلل، مرتکب د ګناه کبیره یې کافر او مخلد فی النار وباله، دوی له ټولو خوارجو په دې مفکوره کې جلا وه هغه دا چې له اسلامي امت څخه یو مخیزه جلا سول، د خپلو اتباعو څخه بغیر یې ټول له اسلامه وتلي بلل او د سړیو او ښځو او ماشومانو قتل یې ځان ته جائز باله.

ازارقة د نافع بن الأزرق په مشرۍ هغه وخت له عبدالله بن زبیر رضی الله عنه څخه جلا سول کله چې

دوی درک کړل چې ابن زبیر رضی الله عنه یې پر رایه نه ورسره ځي، او نه ورسره موافق دي، دې ډلي د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په دور خلافت کې په بصره، اهواز او کرمان کې رشد وکړ، په ښکاره یې د مسلمانانو سره جنګ شروع کړ، بیا د بصرې د خلګو په غوښتنه او د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په موافقت د خوارجو سره د جنګ مشر مهلب بن ابي صفرة وټاکل سو، مهلب تر دوه کاله پوري جنګ جاري وساته، بیا د بصرې والي مصعب بن الزبیر هغه د مختار الثقفي سره د جنګ لپاره راوغوښت، د مختار تر وژلو وروسته بیا مصعب بن زبیر د موصل، اذربایجان او ارمینیا والي وټاکه، خو د خوارجو سره د جنګ لپاره بل داسي څوک نه وو چې د مهلب ځای ونیسي، مصعب بن الزبیر مجبوراً مهلب بیرته راوغوښت تر څو بیا د خوارجو سره د جنګ مشري وکړي، مهلب د خوارجو سره مصروف وو چې عبدالملک بن مروان د مصعب بن الزبیر د وژلو وروسته په عراق کې خپل حکومت قائم کړ، والي یې خپل ورور بشر بن مروان وټاکه، او دا یې ورته وویل چې مهلب دي هماغسي د خوارجو سره د جنګ مسؤل وي، ملاتړ او کومک به یې هم کوې، بشر هم همداسي وکړل، مهلب د خوارجو سره په جنګ کې خپل اخلاص او صداقت واضح کړ، دده مقصد د خوارجو سره مقابله وه دا باک یې نه کاوه چې امر د چا لخوا صادریږي، لکه څنګه چې یې د آل زبیر تر قیادت لاندي د خوارجو سره جنګ جاري وساته،همداسي یې د عبدالملک بن مروان تر بیرغ لاندي هم د خوارجو سره جنګ کاوه، بیا چې کله حجاج بن یوسف د عراق والي وټاکل سو د مهلب سره یې ډیر کومک او همکاري وکړه، قوي یې کړ، نو مهلب هم جنګ سخت کړ، خوارج پر دوو ډلو وویښل سول، د یوې ډلي مشري عبدربه په نامه یو سړي کول، د بلي مشري قطري بن الفجاءة کول، عبدربه او اتباع خو یې د مهلب په مقابله کې ووژل سول، او قطري بن الفجاءة او ملاتړي یې و طبرستان ته ولاړه، مهلب په ۷۷ هـ کې هغه ډله هم ختمه کړه.

(اموي خلافت: مولوي عبدالرحمن محمود)

## حشیشان (فدایان)

د سلجوقیانو د کورنیو جنګونو او اختلافاتو په وخت کې د حسن بن صباح په نامه یو نفر چې د اسلام سره یې هیڅ اړیکي نه وې، د حشیشانو په نامه د یو سلطنت بنسټ کیښود، چې وروسته د فدایانو،

اسماعیلیانو، او باطینیانو سلطنت ورته ویل کیده، د هغه ټولو مریدانو هغه ته سیدنا ویل او په عمومي ډول د شیخ الجبل په نامه یادیده، هعه تر ۳۵ کالو پوري د الموت پر کلا واکوال وو.

حسن بن صباح په خپلو مریدانو کې د وحشي او غرنیو خلگو یوه داسي ډله جوړه کړې وه، چې د ده په اشاره به یې سر ورکول د ژوندانه یو مقصد گاڼه، دغو وگړو ته به فدایان (حشیشان) ویل کیدل، د دغو فدایانو په وسیله به حسن بن صباح د نړۍ لوی لوی بادشاهان، سپاه سالاران او خپل مخالفین په خپلو کورونو کې وژل.

حسن بن صباح باطني په ۵۱۸ هـ د ربیع الأول پر ۲۸ د ۹۰ کالو په عمر مړ سو.

د حسن بن صباح له مړیني وروسته د هغه له شاگردانو څخه یو تن چې کیا بزرگ نومیده د الموت د کلا حاکم وټاکل سو، د کیا بزرگ امید په کورنۍ کې دغه حکومت تر ٦٥٥ هـ پوري قائم وو.

تر کیا بزرگ وروسته د هغه زوی محمد، له هغه وروسته د محمد زوی حسن، تر هغه وروسته محمد ثاني بن حسن، وروسته جلال الدین بن محمد ثاني د الموت حاکم سو.

جلال الدین د حسن ثالث په نامه هم یادیږي، هغه د خپلو پلرونو او نیکونو له عقائدو توبه وکړه.

له جلال الدین وروسته علاؤ الدین محمد بن جلال الدین او په اخر کې رکن الدین خورشاه بن علاؤ الدین واکوال سو.

له حسن بن صباح وروسته د الموت پر کلا او شاوخوا سیمو او کلاگانو د حشیشانو حکومت وو، خو په سل کاله کې دوی کوم پرمختگ ونکړای سو، کله چې چنگیز خان د تاتاریانو د وحشي لښکر سره د اسلامي هیوادونو لوټل پیل کړل، نو دغه حشیشانو هم د خپل حکومت پراختیا پیل کړه، خو لا په مکمل ډول یې حوصلې نه وې لوړې سوي چې د علاؤ الدین خوارزم شاه میړني زوی جلال الدین خوارزم پري حمله وکړه او د دغه فدایانو زور یې ور ختم کړ، د دوی حکومت یوائې د الموت تر کلا پوري محدود سو، د فدایانو سلطنت ډیر کمزوری سوی وو، په اخر کې هلاکو خان حمله پر وکړه او د دوی سلطنت یې د تل لپاره ختم کړ.

د دوی سلطنت ځکه دومره مشهور سو چې هر ډول امکان به یې درلودی دوی به لوی لوی مسلمانان شهیدانول.

# یني چري

## جوړول:

د سلطان اورخان بن عثمان خان د ژوند تر ټولو لویه لاسته راوړنه د اسلامي لښکر جوړول وو، دا لښکر په ډېرو برخو ویشل سوی وو، په هره ډله کې به لس، سل او یا زر سرتیري وه، دا یوه ځانګړې اردو وه.

سلطان یو بل لښکر هم ور زیات کړ، په دې لښکر کې یې هغه نوي مسلمانان ځای پر ځای کړل چې د امپراطورۍ د حدودو د پراخوالي له برکته امپراطورۍ ته ننوتي وه، د اسلام او د کفر په جنګونو کې د مسلمانانو له خوا د فتحه سویو سیمو زیات شمیر اوسیدونکیو د اسلام مبارک دین منلی وو، اورخان دوی ته د اردو سره د یوځای کېدو بلنه ورکړه، او د اسلام په خپرولو کې یې له دوی څخه مرسته واخیسته، د اسلام له خپرولو وروسته نویو مسلمانانو ته تعلیم ورکول کیده، کله چې به د دوی فکري، جګړه ایز تعلیم او روزنه بشپړه سوه، نو دوی به یې بیلا بیلو جهادي مرکزونو ته استول.

اور خان چې کله د دې نوي لښکر له جوړیدو فارغ سو، سمدستي د یوه دیني عالم (الحجاج بکتاش) په خدمت کې حاضر سو او له هغه څخه یې د خیر دعا وغوښته، هغه هم د خیر دعا وکړه او بیا یې د دې لښکر لپاره د یني چري (نوي لښکر) نوم انتخاب کړ.

د سلطان اورخان ورور علاؤالدین د دې لښکر په منظمولو کې له سلطان سره ډېره مرسته وکړه.

کله چې له بیزینطیانو سره د جګړو لړۍ وغځیده او جهادي مسؤلیتونه په ډېریدو سول، نو ده په لوی لښکر کې ډېروالی راووست، په دې سره د لښکرو شمیر تر ۱۰۰۰ پوري ورسید او نور هم تر دې لوړیده، دواړه ورونه پر دې خبره سره متفق وه چې د نوي لښکر د جوړیدو موخه د بیزنطنیانو په وړاندي د جهاد لړۍ ټینګول، او د دین په خپرولو کې د دې سیمي څه ناڅه په خپل قلمرو کې شاملول، له بیزنطیني مسلمانانو څخه، چې تازه یې اسلام قبول کړی وو، د اسلام په خپرولو کې استفاده کول دي.

**ختمول:**

د يني چري فوځ اوس هغسي فوځ نه وو پاتي، پر کوم حالات چې پخوا وو، هغوی ډاکې کولې، شراب به يې څښل، د سلطان امر به يې نه مانه، کله چې به يې پر کومه سيمه حمله کوله، نو عوام خلگ به يې لوټل، او د کومي موخي لپاره چې به ليږل کيدل هغه به يې هيراوه.

د دوی شريعت پريښودل او له اسلامي نظرونو څخه ښا اړولو عثماني دولت له پرله پسې ماتو سره مخ کړی وو.

هغوی به بغاوتونه کول، دوهم عثمان او د هغه په څير د نورو حاکمانو تختې يې واړولې او د تل لپاره يې په خوب ويده کړل، د څلورم سلطان محمد او دوهم سلطان سليم په وختونو کې هغوی بغاوتونه وکړل چې لامله يې پرنگيانو د عثماني دولت ځيني سيمي ونيولې، يني چري دوهم مصطفی، دريیم احمد او څلورم مصطفی يې هم له تخته وغورځول.

په ۱۲۴۱ هـ کال دوهم سلطان محمود د عثماني دولت منصبداران او د يني چري لوی ـ لوی قومندانان سره يو ځای کړل، صدر اعظم سليم احمد پاشا وينا وکړه، هغه په خپلي وينا کې د هغې کمزورۍ يادونه وکړه چې په يني چري کې ليدل کيده او د نوي پوځي نظام په خپلولو يې ټينگار کاوه، ناستو خلگو هم د ده د خبرو سره اتفاق وکړ، بيا مفتي صاحب د سرغړونکيو او باغيانو د ټکولو فتوا صادره کړه، ټولو دا وړانديز ومانه، د يني چري قومندانانو هم په ظاهره خوښ سول، خو کله چې دوی ته محسوس سول، چې د دوی گټي په خطر کې دي او هغوی چې کوم جرمونه کړي دي د هغه سزا به ورکول کيږي، نو هغوی پاڅون ته چمتو سول، له عوامو څخه هم ځيني خلگ له دوی سره مل سول.

اتم د ذي القعدة ۱۲۴۱ هـ کې يني چري د بغاوت اعلان وکړ، سلطان علماء راوغوښتل او هغوی يې د باغيانو په ارادو خبر کړل، علماوو سلطان ته همت ورکړ او مشوره يې ورکړه چې د دوی ختمول ضروري دي.

په نهم د ذي القعدة سهار سلطان مخته ولاړ، د ده له شا پوځي توپخانه، علماء او زده کوونکي هم وو، دوی ټول د (آت ميداني) ډګر خواته نيزدې سول، چيري چې باغيان را ټول سوي وه، ويل کيږي چې سلطان ميدان ته ولاړ او له دوی سره شيخ الاسلام قاضي زاده طاهر افندي او صدر اعظم سليم پاشا هم وو، چې د باغيانو ډلو ته ورسيدل، د دوی شمير له ٦٠٠٠٠ ډير وو.

له دې وروسته توپخانې ميدان کلابند کړ، په لوړو ځايونو يې توپونه ولګول، او په يني چري يې مرمۍ ورول پيل کړل، هغوی په پوځي برجونو کې پټيدل خو هغه برجونه د دوی لپاره هديرې وګرځيدې، په دې ډول يني چري مغلوب سول.

بله ورځ شاهي فرمان جاري سو چې د يني چري يونيفورم، اصاحات او له ټول هيواده د هغوی د نوم ختمولو اعلان وسو، له دې کار وروسته حسين پاشا پوځي مشر وټاکل سو او د پوځ د نوي نظام د جوړولو کار پيل سو.

(عثماني خلافت: دوکتور علي محمد الصلابي)

## جمعية الاتحاد والترقي

په ١٨٩٩ م کال د استانبول د نظامي طبي ښوونځي له زده کوونکيو څخه د يو ګوند بنسټ کښيښودل سو، د دې ښوونځي استادان او زده کوونکي به يې په يو نه يو ډول د حکومت په وړاندي را پارول، په همدې ډول په زده کوونکيو کې عصري عثماني افکار خپاره سوي وه، د دې ګوند بنسټ ايښودونکی ابراهيم تيمور روماني و، په دې ګوند يې د الاتحاد العثماني نوم ايښی وو، د دې خوځښت موخه د سلطان عبدالحميد ګوښه کول وو.
د جمعية الاتحاد غړي چې دننه په هيواد کې اوسيدل او هغه چې په اروپا کې اوسيدل د دوی تر منځ د پټو ليږونکيو په پای کې په دې خبره سره سلا سول، چې ښاريان او پوځيان به په ګډه د سلطان عبدالحميد په وړاندي لاس په کار کيږي، د جمعيت دې دواړو برخو (ښاريان او پوځيان) ته د (جمعية الاتحاد والترقي) په نوم ورکولو سره يې په منظمي طريقې د اقدام کولو پريکړه وسوه.

د الاتحاد والترقي په جمعية کې يهوادنو نه يوائې د رکنيت حق ورکړل سوی وو، بلکه په دې جمعيت کې يهودي شاخونو هم شتون درلود، خاص د دې لپاره چې سلطان عبدالحميد له تخت څخه گوښه کړي.

(عثماني خلافت: دوکتور علي محمد الصلابي)

## سامره

سامره د يهودو يوه ډله ده چې له يروشلم (بيت المقدس) څخه کرکه کوي، او دې ښار ته نه ځي او که هغوی مجبورا يروشلم خوا ته ولاړ سي نو په ښار باندي ډبري واوروي او ننوځي.

(ابو مسلم خراسانی: اسلم راهي)

## الوطني المجرد

دا يو فلسطيني سياسي غورځنگ دی، چې د فلسطين د خپلواکۍ او د خلگو د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره کار کوي.

دا غورځنگ په اساسي توگه يو سياسي او ټولنيز غورځنگ دی چې مقصد يې د فلسطيني خلگو خپلواکي او د هغوی د حقوقو لپاره مبارزه کول دي.

(اغزي او لونگ: يحيی سنوار)

## المنظمة التحرير الفلسطينية (PLO)

دا يو ملي غورځنگ دی چې د فلسطيني عوامو استازيتوب کوي، د دې غورځنگ اساس په ۱۹۶۴ کال کې کښيښودل سو، او مقصد يې د فلسطينيانو خپلواکي او د هغوی د حقوقو د تر لاسه کولو لپاره کوشش کول دي.

(اغزي او لونگ: يحيی سنوار)

## د فتح غورځنګ

دا فلسطيني سياسي او نظامي غورځنګ دی، چې په ۱۹۶۵م کال د ياسر عرفات او د هغه د ملګرو لخوا جوړ سو.

دا د فلسطين د ملي غورځنګ يوه برخه ده او مقصد يې د فلسطين د خلګو د حقوقو دفاع او د فلسطيني دولت جوړول دي.

(اغزي او لونګ: يحيى سنوار)

**الجبهة الشيعية لتحرير فلسطين (Popular front for the liberation of Palestine) (PFLP)**

دا يو سياسي او نظامي فلسطيني غورځنګ دی، چې په ۱۹۶۷م کال جوړ سو.

دا غورځنګ د فلسطين د ازادۍ د غورځنګ يوه برخه ده او مقصد يې د خلګو د حقوقو دفاع او خپلواکي اخيستل دي.

دا غورځنګ له مختلفو لارو څخه فعاليت کوي، لکه سياسي فعاليت، ملي غورځنګونه او مسلح بريدونه.

(اغزي او لونګ: يحيى سنوار)

# ۷: اسلامي اعصار

## ۸: اسلامي اعصار

**لومړی عصر: د نبوت دور**

۲۳ کاله؛ د وحی له پیل څخه بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر وفات پوري.

د بعثت له ۱ کال څخه بیا د هجرت تر ۱۱ کال پوري

| **د نبوت دوره** | |
|---|---|
| اقســــــــام | زمــــــــانه |
| ۱: مکي ژوند | ۱۳ کاله |
| ۲: مدني ژوند | ۱۰ کاله |

**دویم عصر: د خلفاء راشدینو دور**

۳۰ کاله؛ د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت څخه بیا د حضرت حسن بن علي رضی الله عنه تر خلافت پوري.

۱۱ هـ ــ ۴۰ هـ

| **خلفاء راشدین** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شماره | نــــوم | د پلار نوم | د خلافت زمانه | د وفات/ شهادت تاریخ |
| ۱ | حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه (اصلي نوم: عبدالله) | عثمان (ابو قحافه) | ۱۱ ــ ۱۳ هـ | ۱۳ هـ جمادي الثاني |
| ۲ | حضرت عمر فاروق رضی الله عنه | خطاب | ۱۳ ــ ۲۴ هـ | ۲۴ هـ د محرم اول د شنبي ورځ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳ | حضرت عثمان ذوالنورین رضی الله عنه | عفان | ۲۴ ــ ۳۵ هـ | ۳۵ هـ ذوالحجة ۱۸م جمعه ورځ |
| ۴ | حضرت علی المرتضی رضی الله عنه | ابو طالب | ۳۵ ــ ۴۰ هـ | ۴۰ هـ رمضان ۱۷م جمعه ورځ |
| ۵ | حضرت حسن رضی الله عنه | علي رضی الله عنه | ۴۰ ــ ۴۱ هـ | ۵۰ هـ ربیع الأول |

**دریم عصر: اموي خلافت ــ شام**

۹۱ کاله؛ د حضرت معاویه بن ابي سفیان رضی الله عنهما له خلافته بیا د مروان بن محمد تر خلافت پوري.

۴۱ هـ ــ ۱۳۲ هـ

| **اموي خلافت** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شماره | نوم | د پلار نوم | د خلافت زمانه | د خلافت موده |
| ۱ | حضرت معاوية رضی الله عنه | ابو سفیان رضی الله عنه | ۴۱ ــ ٦۰ هـ | ۱۹ کاله ۵ میاشتي |
| ۲ | یزید | معاوية رضی الله عنه | ٦۰ ـ ٦۴ هـ | ۳ کاله شپږ میاشتي یا اته میاشتي |

---

۱: د حضرت معاوية په وخت کې مروان د مدينې منورې والي وو، څو متعدد کلونه د حج فريضه د ده په نګرانی کې تر سره سوې ده.

د معاوية بن يزيد د وفات پر وخت مروان او ځامن يې په مکه مکرمه کې وه، عبدالله بن زبير رضی الله عنه له مکې څخه وويستل، دوی و شام ته ولاړل د هغه ځای بې قراري او اضطراب يې چې وليد په دې فکر کې سول چې بيرته حجاز ته ولاړ سي او د عبدالله بن زبير رضی الله عنه سره بيعت وکړي، په همدې وخت کې د بني اميه ؤو د حکومت بارزي څهرې لکه حصين بن نمير (چې ابن زبير رضی الله عنه يې محاصره کړی وو)...

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳ | معاوية (الثاني) | يزيد | ٦۴ ـ ٦۴ هـ | ۳ مياشتي |
| ۴ | مروان [۱] | حكم بن ابي العاص بن امية بن شمس بن عبدمناف قرشي الاموي | ٦۴ ـ ٦٥ هـ | ۹ نيمي مياشتي |
| ٥ | عبدالملک | مروان | ٦٥ ـ ٨٦ هـ | ۲۱ کاله ۲ مياشتي |
| ٦ | وليد | عبدالملک | ٨٦ ـ ۹٦ هـ | ۹ کاله ۱۱ مياشتي |
| ٧ | سليمان | = = | ۹٦ ـ ۹۹ هـ | ۲ کاله ٨ مياشتي |
| ٨ | عمر | عبدالعزيز بن مروان | ۹۹ ـ ۱۰۱ هـ | ۲ کاله ٥ مياشتي |
| ۹ | يزيد (الثاني) | عبدالملک | ۱۰۱ ـ ۱۰٥ هـ | ۴ کاله ۱ مياشت |
| ۱۰ | هشام | = = | ۱۰٥ ـ ۱۲٥ هـ | ۱۹ کاله ٧ مياشتي |
| ۱۱ | وليد (الثاني) | يزيد (الثاني) | ۱۲٥ ـ ۱۲٦ هـ | ۱ کال ۳ مياشتي |
| ۱۲ | يزيد (الثالث) | وليد (الأول) | ۱۲٦ ـ ۱۲٦ هـ | ٦ مياشتي |
| ۱۳ | ابراهيم | = = | ۱۲٦ ـ ۱۲٧ هـ | ۲ مياشتي او څو ورځي |
| ۱۴ | مروان (الثاني) | محمد بن مروان بن الحكم | ۱۲٧ ـ ۱۳۲ هـ | ٥ کاله ۱۱ مياشتي |

**څلورم عصر: عباسي خلافت بغداد ــــ عراق**

٥۲٥ کاله؛ د ابوالعباس سفاح له خلافت څخه بيا د چنگيز خان تر اقتدار پوري.

۱۳۲ هـ ـ ٦٥٦ هـ

| **عباسي خلافت** |
|---|

| شماره | نوم | د پلار نوم | د خلافت کلونه | اصلي نوم |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ابوالعباس سفاح | محمد بن علي بن عبدالله بن عباس بن عبدالمطلب | ۱۳۲ــ ۱۳۶ هـ | عبدالله |
| ۲ | ابو جعفر منصور | = = | ۱۳۷ــ ۱۵۸ هـ | عبدالله |
| ۳ | مهدي | ابو جعفر منصور | ۱۵۸ــ ۱٦۹ هـ | محمد |
| ۴ | هادي | مهدي | ۱٦۹ــ ۱۷۰ هـ | موسی |
| ۵ | هارون الرشيد | = = | ۱۷۰ــ ۱۹۳ هـ | هارون |
| ٦ | امين الرشيد | هارون الرشيد | ۱۹۳ــ ۱۹۸ هـ | محمد |
| ۷ | مامون الرشيد | = = | ۱۹۸ــ ۱۱۸ هـ | |
| ۸ | ابو اسحق معتصم بالله | = = | ۲۱۸ــ ۲۲۷ هـ | محمد |
| ۹ | واثق بالله | معتصم بالله | ۲۲۷ــ ۲۳۲ هـ | هارون |
| ۱۰ | متوکل علی الله | = = | ۲۳۲ــ ۲۴۷ هـ | جعفر |
| ۱۱ | منتصر بالله | متوکل علی الله | ۲۴۷ــ ۲۴۸ هـ | محمد |
| ۱۲ | مستعين بالله | معتصم بالله | ۲۴۸ــ ۲۵۲ هـ | احمد |
| ۱۳ | معتز بالله [۱] | متوکل علی الله | ۲۵۱ــ ۲۵۵ هـ | محمد |

---

۱: معتز بالله د مستعين بالله تر عزل کيدو يو کال مخکي خليفه وټاکل سو، او يو کال د هغه سره په جګړو اخته وو، چې بالاخره يې عزل ته مجبور کړ.

او عبيدالله بن زياد و شام ته ورسيدل، دوی پر حالاتو کنټرول پيدا کړ امويين يې را وپارول، ابن زياد و مروان ته راغی ورته ويې ويل: ته د قريشو مشر يې څنګه د أبو خبيب (عبدالله بن زبير رضی الله عنه) سره بيعت کوې؟! له همدې ځايه د مروان و خلافت ته اراده سوه، خو د امويانو په خپلو منځو کې هم اختلافات وه چې د خبرو له لاري حل سول، او د مروان پر خلافت پريکړه وسول نو په ٦۴ ه کال د ذي القعدة په مياشت بنو اميه ؤو د مروان سره بيعت وکړ او خليفه يې اعلان کړ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | مهتدی بالله | واثق بالله | ۲۵۵ـ ۲۵۶ هـ | محمد |
| ۱۵ | معتمد علی الله | متوکل علی الله | ۲۵۶ـ ۲۷۹ هـ | احمد |
| ۱۶ | معتضد بالله | موفق بن متوکل علی الله | ۲۷۹ـ ۲۸۹ هـ | احمد |
| ۱۷ | مکتفی بالله | معتضد بالله | ۲۸۹ـ ۲۹۵ هـ | علي |
| ۱۸ | مقتدر بالله | = = | ۲۹۵ـ ۳۲۰ هـ | جعفر |
| ۱۹ | قاهر بالله | = = | ۳۲۰ـ ۳۲۲ هـ | محمد |
| ۲۰ | راضي بالله | مقتدر بالله | ۳۲۲ـ ۳۲۹ هـ | محمد |
| ۲۱ | متقي لله | = = | ۳۲۹ـ ۳۳۳ هـ | ابراهیم |
| ۲۲ | مستکفي بالله | مکتفي بالله | ۳۳۳ـ ۳۳۴ هـ | عبدالله |
| ۲۳ | مطیع لله | مقتدر بالله | ۳۳۴ـ ۳۶۴ هـ | فضل |
| ۲۴ | طائع لله | مطیع لله | ۳۶۳ـ ۳۸۱ هـ | عبدالکریم |
| ۲۵ | قادر بالله | اسحاق بن مقتدر بالله | ۳۸۱ـ ۴۲۲ هـ | احمد |
| ۲۶ | قائم بامر الله | قادر بالله | ۴۲۲ـ ۴۶۷ هـ | عبدالله |
| ۲۷ | مقتدی بامر الله | محمد بن قائم بامر الله | ۴۶۷ـ ۴۸۷ هـ | عبدالله |
| ۲۸ | مستظهر بالله | مقتدی بامر الله | ۴۸۷ـ ۵۱۲ هـ | احمد |
| ۲۹ | مسترشد بالله | مستظهر بالله | ۵۱۲ ـ ۵۲۹ هـ | فضل |
| ۳۰ | راشد بالله | مسترشد بالله | ۵۲۹ ـ ۵۳۰ هـ | منصور |
| ۳۱ | مقتضی لامر الله | مستظهر بالله | ۵۳۰ ـ ۵۵۵ هـ | محمد |
| ۳۲ | مستنجد بالله | مقتضی لامر الله | ۵۵۵ ـ ۵٦٦ هـ | یوسف |
| ۳۳ | مستفی بامر الله | مستنجد بالله | ۵٦٦ ـ ۵۷۵ هـ | حسن |
| ۳۴ | ناصر لدین الله | مستفی بامر الله | ۵۷۵ ـ ٦۲۲ هـ | احمد |
| ۳۵ | ظاهر بامر الله | ناصر لدین الله | ٦۲۲ ـ ٦۲۳ هـ | محمد |
| ۳٦ | مستنصر بالله | ظاهر بامر الله | ٦۲۳ ـ ٦۴۲ هـ | منصور |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | مستعصم بالله [۱] | مستنصر بالله | ٦٤١ ـ ٦٥٦ هـ | عبدالله |
| عباسي خليفه گان په مصر کې | | | | |
| ۱ | مستقر بالله [۲] | ظاهر بامر الله | ٦٥٩ ـ ٦٦٠ هـ | احمد |
| ۲ | حاکم بامر الله | حسن بن علي بن ابي بکر بن مسترشد بالله | ٦٦١ ـ ۷۰۱ هـ | احمد |
| ۳ | مستکفي بالله | حاکم بامر الله | ۷۰۱ ـ ۷۰۲ هـ | سليمان |
| ۴ | واثق بالله | مستمسک بن حاکم بامرالله | ۷۰۲ ـ ۷۴۲ هـ | ابراهيم |
| ۵ | حاکم بامر الله | مستکفي بالله | ۷۴۲ ـ ۷۵۳ هـ | احمد |
| ٦ | معتضد بالله | = = | ۷۵۳ ـ ۷٦۲ هـ | ابوبکر |
| ۷ | متوکل على الله | د معتضد بالله لمسی | ۷٦۲ ـ ۷۷۸ هـ | محمد |
| ۸ | مستعصم بالله | محمد ابراهيم بن مستمسک بن حاکم بامر الله/ړ | ۷۷۸ ـ ۸۰۸ هـ | ذکريا |
| ۹ | مستعين بالله | متوکل على الله | ۸۰۸ ـ ۸۱۵ هـ | عباس |
| ۱۰ | معتضد بالله | = = | ۸۱۵ ـ ۸۴۲ هـ | داؤد |
| ۱۱ | مستکفي بالله | = = | ۸۴۵ ـ ۸۵۸ هـ | سليمان |
| ۱۲ | قايم بامر الله | = = | ۸۵۸ ـ ۸۵۸ هـ | حمزه |
| ۱۳ | مستنجد بالله | = = | ۸۵۸ ـ ۸۸۲ هـ | يوسف |
| ۱۴ | متوکل على الله | يعقوب بن متوکل على الله | ۸۸۲ ـ ۹۰۳ هـ | عبدالعزيز |
| ۱۵ | مستمسک بالله [۳] | متوکل على الله بن يعقوب بن متوکل على الله | ۹۰۳ ـ ۹۲۲ هـ | يعقوب |

۲: د مستعصم بالله د خلافت په ختميدو سره د عباسي خلافت لومړنۍ لړۍ پای ته ورسيده... (بل مخ)

**پنځم عصر: عثماني خلافت**

٦٤٢ کلونه؛ د عثمان خان له واک ته رسیدو څخه بیا د سلطان عبدالحمید (الثاني) تر خلافت پوري.

| عثماني سلطنت | | | |
|---|---|---|---|
| شماره | نوم | پیژنده | د خلافت زمانه |
| ١ | عثمان خان | د ارطغرل بن سلیمان شاه زوی | ٦٩٩ ـ ٧٢٧ هـ |
| ٢ | سلطان اور خان | د عثمان «اول» زوی | ٧٢٦ ـ ٧٦١ هـ |
| ٣ | سلطان مراد | د سلطان اور خان زوی | ٧٦١ ـ ٧٩١ هـ |
| ٤ | سلطان بایزید یلدرم | د سلطان مراد «اول» زوی | ٧٩١ ـ ٨٠٥ هـ |
| ٥ | سلطان محمد | د سلطان بایزید «اول» زوی | ٨٠٥ ـ ٨٢٤ هـ |
| ٦ | سلطان مراد (الثاني) | د سلطان محمد «اول» زوی | ٨٢٤ ـ ٨٥٥ هـ |

---

له مستعصم بالله وروسته بیا درې نیم کاله په نړۍ کې خلیفه نه وو، د هغه وروسته په ٦٥٩ هـ کال د مصر د مملوکانو د حکومت پاچا ملک الظاهر سلطان رکن الدین بیبرس د مستعصم بالله د اکا ابو القاسم احمد په لاسو د خلافت بیعت وکړ او د مستقر بالله نوم یې ورته غوره کړ.

٢: په ٦٦٠ هـ کال د تاتاریانو سره په یوه جګړه کې مستقر بالله ورک یا ووژل سو، د هغه د ورکیدو په خاطر یو کال بیا خلیفه نه وو وروسته بیا حاکم بامر الله خلیفه وټاکل سو.

٣: په ٩٩٢ هـ کال سلطان سلیم عثماني پر مصر حمله وکړه او د مملوکانو حکومت یې ختم کړ او خلیفه مستمسک بالله (چې هغه په نوم خلیفه وو) ونیوه، مستمسک ورته امساء، څادر او نور تول تبرکات چې له هغه سره د خلافت د نښې په توګه موجود وه ورکړل، او په خپله یې هم له سلطان سلیم سره بیعت وکړ، سلطان سلیم مستمسک بالله و قسطنطنیه ته بوتلی او هماλته وفات سو.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | سلطان محمد خان فاتح (الثاني) | د سلطان مراد «دوهم» زوی | ۸۵۵ ـ ۸۸٦ هـ |
| ۸ | سلطان بایزید (الثاني) | د سلطان محمد «دوهم» زوی | ۸۸٦ ـ ۹۱۸ هـ |
| **عثماني خلافت** | | | |
| ۹ | سلطان سلیم | د سلطان بایزید «دوهم» زوی | ۹۱۸ ـ ۹۲٦ هـ |
| ۱۰ | سلطان سلیمان القانوني | د سلطان سلیم «اول» زوی | ۹۲٦ ـ ۹۷۴ هـ |
| ۱۱ | سلطان سلیم (الثاني) | د سلطان سلیمان «اول» زوی | ۹۷۴ ـ ۹۸۲ هـ |
| ۱۲ | سلطان مراد (الثالث) | د سلطان سلیم «دوهم» زوی | ۹۸۲ ـ ۱۰۰۳ هـ |
| ۱۳ | سلطان محمد خان (الثالث) | د سلطان مراد «دریم» زوی | ۱۰۰۳ ـ ۱۰۱۲ هـ |
| ۱۴ | سلطان احمد | د سلطان محمد «دریم» زوی | ۱۰۱۲ ـ ۱۰۲٦ هـ |
| ۱۵ | سلطان مصطفی | = = | ۱۰۲٦ ـ ۱۰۲٦ هـ |
| ۱٦ | سلطان عثمان (الثاني) | د سلطان مصطفی خوریی | ۱۰۲٦ ـ ۱۰۳۱ هـ |
| ۱۷ | سلطان مصطفی (دوهم وار) | | ۱۰۳۱ ـ ۱۰۳۲ هـ |
| ۱۸ | سلطان مراد (الرابع) | د سلطان احمد «اول» زوی | ۱۰۳۲ ـ ۱۰۴۹ هـ |
| ۱۹ | سلطان ابراهیم | = = | ۱۰۴۹ ـ ۱۰۵۸ هـ |
| ۲۰ | سلطان محمد (الرابع) | د سلطان ابراهیم زوی | ۱۰۵۸ ـ ۱۰۹۹ هـ |
| ۲۱ | سلطان سلیمان (الثاني) | = = | ۱۰۹۹ ـ ۱۱۰۲ هـ |
| ۲۲ | سلطان احمد (الثاني) | = = | ۱۱۰۲ ـ ۱۱۰٦ هـ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۳ | سلطان مصطفی (الثاني) | د محمد «خلورم» زوی | ۱۱۰۶ ـ ۱۱۱۵ هـ |
| ۲۴ | سلطان احمد (الثالث) | = = | ۱۱۱۵ ـ ۱۱۴۳ هـ |
| ۲۵ | سلطان محمود | د سلطان مصطفی «دوهم» زوی | ۱۱۴۳ ـ ۱۱٦۸ هـ |
| ۲٦ | سلطان عثمان (الثالث) | = = | ۱۱٦۸ ـ ۱۱۷۱ هـ |
| ۲۷ | سلطان مصطفی (الثالث) | د سلطان احمد «دريم» زوی | ۱۱۷۱ ـ ۱۱۸۷ هـ |
| ۲۸ | سلطان عبدالحميد (الأول) | = = | ۱۱۸۷ ـ ۱۲۰۳ هـ |
| ۲۹ | سلطان سليم (الثالث) | د سلطان مصطفی «دريم» زوی | ۱۲۰۳ ـ ۱۲۲۲ هـ |
| ۳۰ | سلطان مصطفی «الرابع» | د سلطان عبدالحميد «اول» زوی | ۱۲۲۲ ـ ۱۲۲۳ هـ |
| ۳۱ | سلطان محمود (الثاني) | = = | ۱۲۲۳ ـ ۱۲۵۵ هـ |
| ۳۲ | سلطان عبدالحميد (الأول) | د سلطان محمود «دوهم» زوی | ۱۲۵۵ ـ ۱۲۷۷ هـ |
| ۳۳ | سلطان عبدالعزيز | = = | ۱۲۷۷ ـ ۱۲۹۳ هـ |
| ۳۴ | سلطان مراد (الخامس) | د سلطان عبدالحميد «دوهم» زوی | ۱۲۹۳ ـ ۱۲۹۳ هـ |
| ۳۵ | سلطان عبدالحميد (الثاني)[1] | = = | ۱۲۹۳ ـ ۱۳۲٦ هـ |
| ۳٦ | سلطان محمد | = = | ۱۳۲٦ ـ ۱۳۳۳ هـ |
| ۳۷ | سلطان وحيدالدين محمد | = = | ۱۳۳۳ ـ ۱۳۴۰ هـ |
| ۳۸ | سلطان عبدالمجيد | سلطان عبدالعزيز | ۱۳۴۰ ـ ۱۳۴۱ هـ |

(د اسلام تاريخ، اموي خلافت، عثماني خلافت او د اسلامي خلافت د مشرانو لنډه پيژندنه)

۱: انقلابیانو په سلطان پوري تور پوري کړ چې د قران نسخې یې سوځلي دي بیځایه لګښتونه کوي او ظلمونه کوي او ویني تویوي د دې تور پر اساس په (۱۳۲٦ هـ/۱۹۰۹ م) د جمعیة الاتحاد والترقي انقلابیانو شیخ الاسلام محمد ضیاء الدین دې ته اړ کړی چې دا فتوا ورکړي چې سلطان عبدالحمید دي له خلافت څخه لاس واخلي، د دې فتوا پر اساس یې سلطان عبدالحمید ثاني ګوښه کړ.

کله چې سلطان عبدالحمید ګوښه کړل سو له هغه وروسته هم څه خلیفه ګان وه، خو واک مکمل د جمعیة الاتحاد والترقي په لاس کې وو.

چې بالاخره یهودانو د مصطفی کمال پاشا په نامه د دوی تر لاس وتلی سړی مخي ته رااووست او مسلمانانو ته یې د یو اتل او غازي په نامه وروپیژانده.

په ۱۳۴۱ هـ کې عثماني خلافت پر مخ ختم سو او پر ځای یې مصطفی کمال د جمهوریت اعلان وکړ.

# پــای




له ډېره وخت څخه مي د ځان سره داسي څه یادابښت کول چي په اړه به يې خبر نه وم، یا به په خبر وم خو په جزئیاتو به يې سم نه پوهیدم او یا به يې تاریخونه په کره ډول نه وه را معلوم، نو په دې ډول مي له ډېره وخته وروسته او له ډېرو یادابښتونو له لیکلو وروسته دا فکر ته راغلل چي د رسالې بڼه ورکړم او د ځان سره يې وساتم، نو همداسي مي وکړل.